

Ketabton.com

# وړانګه

يوه وړانګه په لاس ورشي
آدم ولاړ شي قدم وړاندې
بيا پيړۍ په ځای ولاړې وي
او تيرې وي لاندې باندې

ګوهر رحمان ګوهر

PROPERTY OF ARIC Established 1989

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکتاب نوم : ورانګه
ویناوال : ګوهر رحمن ګوهر
دچاپ کال : ۱۹۸۹
خطاط : نورالدین هنریار

بسم الله الرحمن الرحیم

په ویاړ
د هغه ټولو ځمریالو
چې د بنیاد مود ښتونو ځنی
تېځندی د پښتو ځولانې او د -
لاسونو ولچکونه پرې کوی او دا
رنګ آدمزاد خپل قجیر قامت
ته ور جګوی او ژوند نور
غوړځانګن کوي.

PROPERTY OF ACKU 7550

څوک يې ولې خپل قسمت کړي
کومه ورځ چې نوربېدی[1] شي

ځان په بنش ولې لیکه[2] کړي
چې په شتوکې اودرېدی شي

څه په سرآسمانونې يې
که آسمان ځمکه کېدی شي

په مټ څه لره سر په ده
چې په مټ نړغونېدی شي

په خرډک[3] دې ولې سود[4] شي
چې په خپز نبسترېدی شي

د پړو[5] تل[6] ته ولې پتلی[7]
له بریالو چې ملتېدی[8] شي

د بازادارهنر دې نه نر ده
که نه يې چتې بازېدی شي

لیت اولارچې د مېړه وي
فطرت ټول ولجه کېدی شي

---

۱- نوربېدل = بدلېدل، ۲- لیکه = حساب، ۳- خرډک = یوبوټی، ٤- سود = مطمئن
۵- پړه = ماتې خوړل، ٦- تل = ډله-جمعیت، ۷- پلتل = یوځای کېدل، ۸- ملتل = ملکېدل

که سوارۀ لوی فرعونان دي
که کليم ؑ شي کونډېدی شي
د بري لارې بند نه دي
که له سر څوک تېرېدی شي

○

لوی کتاب د مېړښکارانو
ګډ په وينه کې د ځان کا
بیاد خټو کوګوشتان ټول
الوتونکي باتوران کا

○

دکلیم دودونه خپل کا
رانسکوره زورجهان کا
پرېباسلی او نتلی[1]
دوران قهرمانان کا

○

هغه څوک چې مېړه خپل دی
ټینګ په ننګ او په خپل ځېل[2] دي
د زمرو مارښي[3] یې ژوند دی
چې د ښنو زمرو د سېل دی

---

۱- نتلی = ناتارشوی، ۲- ځېل = هوډ، ۳- مارښي = ښکار.

ترمې وينې دی سکروټې
ترمې وينې هم رامبېل[1] دی

د خپل تنګ دې پاتې شوي
په کولنډ[2] دی که په ښکېل دې

رشی ښکه بې کوندی[3] شي
چې څانګې[4] همه رشپېل[5] دي

داطبيب به دې ښنک روغ کړي
چې بې چارې د شاخېل[6] دي

چې د دروزې[7] بې تشې وي
په وينو پرا ته غلبېل دي

چې جامه بې کاسېرې[8] وي
څه په چېل[9]، څه که بې چېل دي

د باتور انګې[10] وروستې ده
مشرې که په چارخويل[11] دي

---

۱- رامبېل = يوګل، ۲- کولنډ = کټځه چې دغوبې، څاروي ښت ته يې اچوي چې د آزاد ګرځيدو نه يې منع وساتي، ۳- کوندی = کاڼی کښتې - خلپل، ٤- څانګې = درې غابښې ۵- رشپېل = چې دغلې رشی پرې بادوي، ٦- شاه خېل = چې شاه خليل کوي يعنې ځرمنه شخ شخ تسمه تسمه کوي، ۷- دروزه = دغنمو ونډ - تيلی، ۸- کاسيری = بد لمنی ۹- چېل = پروني، ۱۰- انګې = يوه لويه چې وايي انګې مل دی څوک دی ،
۱۱- چارخويل = قرقره

نه د دین، نه د سا(۱) دین دي
خوار متاژه د سوئیل(۲) دي
شاید بیا خلیل ع زرغون کړي
"مومنان" ټول آذرخیل دي

کلیمه لویه کیمیا ده
لا ناپوهه پر دنیا ده
ژوند په هر اړیکي وي چې
کلیمې ته یې اړتیا ده

د جهان د سمام(۳) پیټي
وړي تندي باندې میړونه
د ملخي نه کله کیږي
د باتور، د باز کارونه
ننګیالي په دار بر سیره
غوړوي خپل منبرونه
په پاڅون چې "زه یم" نه کړي
خوشې پوچ هغه مونځونه

---

۱- سادین = اړولې ځمکه، ۲- سوئیل = دریمه نړۍ، ۳- سمام = بندوبس- توزیع

په جرقار چې لرو بر کړي
بلالي رض هغه بانګونه(1)
چې دا حُمکه دخدای کور کړي
دي هغه دخښتن ملونه

ننګيالي دي شاه ميړونه
لکه حق يې کړي وړه وي
دننګيال په مټ، په توره
دلته ار دخښتن کړه وي
خولې ماتې په فرعون کړي
دننګيال دمزري زړه وي
تورځنګلونه(2) خوندې وي
حق ننګې يې غرين کړه(3) وي
ساه يې واچوي جوش(4) کې
له پيړو پيړو چې مړه وي
دناحق وړه(5) بتول پړه کړي
وړه هغه کړي، چې تل پڅ وي

---

١- بانګونه = آذانونه، ٢- تورځنګلي = باطل کاره، ٣- غرين کړه = قلا- سنګر
٤- جوش = تنه ، ٥- وړه = بربالي .

د کیدړې په اور ړه نه شي
چې په غرمب د ښتو زمړو شي
په تسپو موسلو نه شي
چې په تورو، په نیزو شي
په منښتو[1] نه بودېږي
چې په وینو په خولو شي
چې د باز شوغې ته اړ وي
هغه څنګ له تو تکو شي!
ننګیالي یې شي کولی
چې په دار، په غرغرو شي
د تاریخ بهیر کړولی
کله څوک بې هوډیالو شي؟
د راسمنو چارې کله
د نارامو[2] په لینکو شي
دژوندون د میدان ګټې
په ډال غاړو توریالو شي
د ځیرک مېړانه کله
له درست کلي د ړندو شي

۱- منښته = زیار تونوته دوړو دپاره په ځان ځه منل، ۲- نارام = ناغیر- ناراست .

چې رنځور باویړې[1] وکړي

پو چې هیلې د دارو شي

آدم وګوره ای مارکسه!

کله بې سود په کوکو شي

د ځانګو د کوچني نمرې[2]

پوره څرنګ په ځلمو شي

چې د نمر د روناوي وي

رون به څنګ په اورکو[3] شي

عقل څه خوني آتي دی

راسوړي[4] په خپلو ملو شي

د ځیرک سر پوره والی

د حرم په سیپارو شي

چې له مال خبره واوړي

پت په سربندي پاله شي

کائنات چې په منګل کړي

د اسرې سرې باله شي

---

۱- باویړې = بابیړې = د ناروغی بیا تاندېدل، ۲- نمرې = جامې، ۳- اورکی = اوربلکی
٤- راسوړي کېدل = راکرځېدل - راخلاصېدل - راختل.

لوښتې نه تلي صبا څوک

هم يو «زه يم» به تاله شي

ښکلې هغه چې ښېيوه[1] يې

يو د «زه يم» په پساله شي

زه يم هر کله څلمی دی

دې وجود چې زوړ ځاله شي

هغه ورځ به ستر سحروي

چې دا ځمکه يو ګاله[2] شي

په يولوی سين کې غرېلی

چرې، چړ، لښتی، ويالــه شي

○

د کتاب حدماتي مه شي

هره لاره چې تړي

چې د ژوند د خيره نه وي

ورانوه لارې زړې

حق به هله ميشته وکا

لومړی غير چې وشړي

يا سړي ياد څړي شه

حق ناحق ولې ولړي

---

۱- ښېيوه = دول- ښايسته والی، ۲- ګاله = کور

زيبنباکيان چي له مينځ ورک شي
پړکني به شي مړي
لوی آتيان لکه اوګر[1] کړي
د جګ غر تيږي وړي

○

ستور ښار کو دوره کسي
په ښار لوی کړل تنها کي
نری ووټ يې چرته بيا موند
برد ستورو په دنيا کي

○

له کارونو او له شګو
سره زر وسبکل کيږ يکرو[2]
الوول حق و ناحق دی
ښنګ تر اوسه ستړ کورو؟

○

د بوذر[3] د کندي خلق
د آذر د کندي دي
که هر ځومخ په کعبه دي
له بتانو پيوندي دي

---

۱- اوکر= د ښاروود خوړلونه وروسته پاتي کېدونکي ګياه يا تاناتېي، ۲- کيږيکره کيږ کوونکي

جوړوي د ښېښو مېنې[۱]
ځیرکان خوښېبه کړوي
د وختونو په ناتار کې
چې یې وکوري د بړ[۲] وي

○

د وجود نیستي بلا ده
پرې له سوخته مارکسان ژاړي
سر نیستي ده د نیش[۳] "زه یم"
د وه نیستي کلیمان ژاړي

○

رغانه د توکو توکو
د صورت هسې د وړېږي
ولې "زه یم" یوتوکیز[۴] دی
یوتوکیزی نه نړېږي

○

حیواني وجود څه دئ؟
د حجرو[۵] الوولتیا ده
او حجرې د خاورین توکو
خپل ترمینځه انډولتیا ده

---

۱- منینه = کور، ۲- ډبړ = سنګسار، ۳- نیش = ناشته - نیشت، ٤- یوتوکیز = د یوتوکی نه جوړ - چې ګډوډیزه نه وي، ٥- حجره = Cells - ژوندینکی.

دا خاورینه واړه تسوکي

د بړیښنکو ږغونې دي

او بړیښنکو ته چې ځیر شي

تشې تړقنده ځپې دي

○

د ین همه واړه سره زړ دی

مذهبونه ټول زړ نیخ

د ین ژوندون کاندی غوړځانګه

مذهبونه یې چار میخ

○

ګرلاسی کندوان یې ډک شول

چې جَب جوب شول په خولو کې

ځارله هغو تور یالیو

چې په خېټ دي سرشیړو کې[1]

غوړه[2] ټوله دې په ځان بډه

تش لمن که یې پسرلو کې

ساده ګوري ملغلري

خُسا ډنډوکو، خرخوړو کې

---

1- سرشیړه = سرپوړ ، 2- غوړه = تومت- ګرَم والی - ملامته

دا چې ګواښ په سترو کېږي

ته هم زوره څه نیزو کې

څه ناویاته چاره وکړه

مېړنیه! په تلو تلو کې

○

کوړیمار[1] چې د ببل وو

هغه سر په مونډو[2] دی

کړولی[3] چې یې د باز وې

په لولکو په شوغو دی

چې د برید او د غدې وُ

د تسپو د موسلو دی

چې جرګې پرې ښایسته وې

هغه شرم د جرګو دی

چې ښښتن د لوی اخور وُ

اوس د پوچو کسبېدو دی

د تیرو تورو بوږکی[4] وُ

د بې سترګو د کندو[5] دی

---

۱- کوړیمار = دا ټمان د مخې په لوبه کې په ببل (په سرکې) د کوړې (حلقې) د ننه کې ویشتونکی

۲- مونډه = د مخې په لوبه کې په بټ د تیلی خمې نه ښکته وچې کېښې لوېږي، ۳- کړولی = د ښکار ځیرکولی، ښار لوده پاره د باز تاویدل راتاویدل، ٤- بوږ = زمري، ۵ = کندی = چم، محلت.

## د قرآن ځني نامسنده
## څه د خوشو عقیدو دی.

بازداري یولوی هنر دی

ته په یو ښیله[1] بازداري
چتی نه لري جمې
په نامه باندې میشکاري[2]
تش غړ بازو وته ناست یې
څه که ځوېې د لوی بلا ري
ته میر ښکاره کړې غواړي
په ښه ښه مرداري
یې په تومنه له و یارلو
خو په چارو کې د ویار[3] یې
له قرآن په غیر هذا
بې صلوٰة مونځ ګذاري
کله سرکړیوان ته کوز کړه
چې داولې دومره خواري؟

---

۱- ښیله = د څرمنې لاسمه چې د باز ښکنبونکو د پاره یې لاس ته اچوي، ۲- میشکار = بلزوان، ۳- ویار = شرم.

چې پټو لنه قرآني وي

دا سرې به شهسرې[1] وي

دا تنزري تاروګې به

بیا بازونه وهندي وي

دا پربوتي، دا انسټ[2] به

بیا شنسترې آسماني وي

چې نومرې په قام قام دي

بیا به ټول یو آدمځي[3] وي

د ننن شخولې[4] او کاټي[5] به

صبا توري او توبري وي

په ونډه[6] ځمکې د ننن به

نه ځمکوال، نه شیخ ملي وي

نه به پولې، نه بیلتون وي

نه نهما، نه زمایي وي

یو آدم، یو آدمتاله[7]

په کښ رنګ به یورنګي وي

---

۱- شهسرې = سترسرې، ۲- پرېوتي انسټ = بومتي دي، ۳- آدمځي = د آدم زامن، ۴- شخوله = درسته، ۵- کاټي = تیکي، ۶- ونډه = داسې حلال کرې څلروې چې پکې خلقو برخې (ونډې) ملستي وي، ۷- آدمتاله = ټولنه چې پکې د ځمکې ټول استوګنې (ځمکزي یا آدم زي) راټول وي یا سره راټاله وي

آدمخوني(۱) به یو کور وي

وران به کور کې کور کې وي

درناوی به وي په جسو

سپکاوي به بې جسي(۲) وي

نه مړي نه به ښخښتن وي

نه به غټ، نه به نري وي

نه کاواک، نه به بې واک وي

چې لله به ټولواکې وي

ټولنوال به ټولنوال له

رب، رحیم وي، او ولي وي

هم به یې کسب خالقي وي

هم توره(۳) به یې رازقي وي

وي پاخون لکه یو تن به

یو تاله به مختکي(۴) وي

له ختیځه ترلویدیځه

به یو ستره ورورولي وي

په حدونود کتاب کې

به دعقل خپل مخي(۵) وي

---

۱- آدمخوني = ځمکه، ۲- جسي = ورتیا = اهلیت، ۳- توره = قانون - تره - ترلې لاره - لاره، ٤- مختکي = مخکې تګ، ۵- خپل مخي = خپلواکي - آزادي.

سین، د غاړو په درنښت به

تل تر تله غړځنګي وي

یو ځاړېږي به له ټولو

ټول له یوه به لوکي وي

له قبلو دې کړه وړو

به یوه کعبه موندي[1] وي

له زرها اوږ اورکو به

د حرې یو رڼایي وي

سرې ټول به سره سیال وي

په فطرت[2] به یې سترواکي وي

ستا خیرې درست کائنات دی

ته لا کوز په خرخښي[3] یې

پولې پولې ده لا ځمکه

خپل ترمینځه په دښنو[4] یې

ژوندله تنه کړونیزدی[5]

ته ځان ځانې به ترخوې

---

۱- موندنه = راکسل ناوی ۔ د غوبل د مینځ غوښې، ۲- فطرت = نیچر د بنیاد م نرپتر نورېټول کائنات ۳- خرخښي = جنګونه، ٤- دښنه = دښمني، ٥- کړونیزه په کړه هستیدونکي.

څمکه یو کور څکه نه شه
ته ترڼن د کورکوي
یوکوړمه[1] واړه آدم دی
تن په قام، په قبیلو وي
د یوې حجرې زیږنده
د حجرو په بیل ګلو وي

کړه بنا یو آدمتاله
وران کا پولې سرحدونه
د خپل تن حجرې کا ټولې
دا خواره واره قامونه
ستامرام یو وروولي ده
نه ملکري ملتونه
یو بیرغ په څمکه جګ کا
کوز کا واړه بیرغونه
داوسلي د مرګ لاهوکا
سُر د امن کا تارونه
پدې څمکې ـ آدمځوني
بیا برسیر کا جنتونه

---

۱ـ کوړمه = کورنۍ.

یو کتاب دی سرتوره[1] کا
نور ونغاړه کتابونه
بیا آزاد په آدمزاد کا
پارچاو[2] شوی نعمتونه

زول چاپیره سورالوزي
دوه ویزاره راپریوځي
له دې چې قندناتار به
هم پاخه بښځتې وځي

چې دشروند ځله یې مړه شي
چې یې ساه دلینکو وځي
راخوره شي پرې دلوړو
او په خوله ځوځي ماځوځي

دقرآن دعوه خو داده
چې مؤمن په هرچا بردی
دعوه کیږ دکتاب کوره
دهمه قامونو لر دی

---

۱- سرتوره = دسرقانون - اساسي قانون - بنسټیز قانون، ۲- پارچاو = دوب - بند.

د زر دارو په تــــرلــنې
دې کټونکي په بايلـــــنې
د شتــه منــو شــتــه مني ده
د نيستمنو له نه بېښــــنې
د مارو کوښې[1] جـورېږي
د تش بانړو[2] له شــــرمنې
د زردار مــانۍ ولاړې
د کارګر په تــنې پــلنې
د ډک لاس[3] سپينه جامه ده
د تش لاســو په ريمــنې[4]
بده ورځ د لــولنــګرو[5]
دا زل نه دی لیکـــنې
د باطل تولنه پايـــي
د مذهب په سرويڅنې[6]

---

۱- کوښې = پيزار، ۲- تش بانړې = نيستمن، ۳- ډک لاس = چې لاس يې ډک وي
٤- ريمنه = خيرنه - خيچنه، ۵- لولنګر = بې ځمکې - چې ځمکه يا دوبتــ
نه لــري، ٦- سرويڅل = ملاتړ کول - پلوي کول.

وګړي ټول که آذري غواړي
څښتن له تا نه خلیلي غواړي
د فرعوني سپاره کوزولوله
واړه وختونه کلیمي غواړي
په تشو ټیکو که کټي کیږي
د ننګ ډکرلا شه حلمي غواړي
وګړي ټول سر ړقوي او پایي
حق د میړه غوندي شروندي غواړي
ښکیلاکي عمر د خاروودي ګوري[1]
شروندي آدم به مخ کښي غواړي
د اباسین خونړي نیزاوچلي[2]
د جالیوانو سرهنګي غواړي
په هسک او تل د حقیقت لټول
تل سربېري لېوني غواړي
چې د څښتن لاره د ب کولی شي هم
شروند اسي زیږ او هګ سړي غواړي

---

١- وګورئ = خبردار ، ٢- نیزاوچلي = سیلاب اوچپې .

○

دهغه قامونو په خرخشوکي

واړه قامونه بې هيڅه دل شي

دميکياولي د شهزادګانو

په ژمنو خپلو کله عمل شي

خپل کند کونه به پرې ناتار کړي

کله چې که ټولي زمري ته تهل شي

غښتلي متې دخان کلا ده

کمزوري متې دخان اجل شي

که سر ببري هوډيالي پاڅي

په ريږکو[1] به داهغه بدل شي

○

چې دحق سره په لار دی

لکه حق هسې بې شار دی

چې دحق دلارې بېل دی

په دنيا په آخر خوار دی

يو ويار[2] دحق رنګ دی

بل هر رنګ آخر دوتيار دی

---

۱- ريږکی = کوچنی - وړوکی - ناشی، ۲- ويار = شرم - پېغور.

چې تېغه[۱] کې حق ته و لاړ دی
د خدای هغه څوک پکار دی

د خپل «زړګي» نا روزونکی
خپل ځاني په ځان ناتار دی

د مېړونو مټ که کوري
ګل ورین هم تنه، چار دی

په توله چې د ټول ژوند دی
حق، او ښکلی هغه کار دی

چې د خیر د آدمزاد دی
نو په خدای هغه مخدار[۲] دی

چې ناسور په مخ د ځمکې
شیخ ملي وي دا دوترې

آدمزاد به دوه تپې وي
لرې برې نورې لرې

د پښتونو د لرمون به
زرینې لوږې او نهرې

---

۱- تېغه = برش - کړه وړه - نقش -

۲- مخدار = روبدار - دروند.

شي څوک لي خلق به

بې دولتي[1]، يوه څری[2]

درپه در خاوري په سر به

پرکښې وي لولنکري

د هټولنو لور شور دا -

خپلو بد وله اشري

عقوبت په غرغند وشي

چې دکيا[3] وي اورد سري

تا له تک د ادم ار دی

په يو وار څې برابري

چې پرې دروي کائنات ټول

ستا هم هغه لار مخبري[4]

PROPERTY OF ACKU 7990

○

دا چې خان خانتوره[5] بولي

دا چې هر چېرته شمله دی

نيسمنان په کمنه[6] نيسی

وايي سپک دی ارکجه دی

---

۱- بې دولیت = چې دوله نه لري، ۲- یوه څری = چې یوازې وي، ۳- دکیا = چې لوکی کوي،
٤- مخبری = په برمخ، ۵- خانتوره = خان چې ټول پر انستل کوي چې د توری خان وي،
٦- کمنه = کم ذات - کم اصل - کم سیال

له ازل، وايي بربيال يو
نور په برخه شاګنده[1] دي
دوی له مخه د خدايه رغ[2] دی
نور له پښتو يي زيږ نده دي!
کومه توره يي د ازل ده
چې شتمن داسې پوره دي؟
د نيستمنو ګناه دی
چې نېکړې، نيم کوړه دي؟
او په هره يو ټولنه
پرې، پرېوتي او روږه[3] دي!
که د اصل کړې پوښتنه
آدم زی ټول يو حجره دي
له يوې حجرې راغلي
قام، قبيل، تپه تپه دي
لوړ ژور دی له زبېښاکه
شته په نيشو[4] آلوده[5] دي
د بې وس د بې وسی نه
وسمن را زرغونه دي

---

١- شاګنده = چې شايي لګېدلې وي، ٢- رغ = جوړ، ٣- روږه = تباه.
٤- شته او نيش = شتمن او نيستمن، ٥- آلوده = نښتي - اخته

لہ شتہ منو غلچکو بیا
مذھبونہ بدرگہ دي

دفرعون دکور د نشتہ
پہ پاخون آخر موسیٰ ع شي
دباطلو بناماران تول
تار پتار يې لہ امسا شي

○

عقل ليت دی، دیوکي ده
پرې قدم قدم روښېږي
کلیمہ ھغہ شهليت[1] دی
چې ټول ښروند پرې جوتیږي

○

دآدم د شاه خامنو
توري هر کلہ ښروندي دي
د وختونو پہ آسمان يې
پہ ځلا ستوري سپوږمي دي

○

د زړو پیړو کارونہ نہ میړونہ بہ بیا کړي
شاه میره کړي ھغہ چارې چې پیړې پس يې دنیا کړي

---

۱- شهلیت = شه + لیت = لوی لیت.

○

چې په ځان پلن (۱) سوري نه شي
ټول جهان په ځان راتنګ کړي
له کونړه چې د مه شي
هغه توري نېزې رنګ کړي
هو د يالی نېزه باز کوره
چې په ماته نېزه جنګ کړي
له يوې بلې تپرې ته
د رګي (۲) زمري غوځنګ کړي
چې د مرګ په طلب نه شي
ژوندانه ورځني څنګ کړي
ننګ په حق باندې کوونکی
لکه ځان باندې چې ننګ کړي
رنګ له حقه ځني واخلي
بيا ورپاڅي جهان رنګ کړي

○

کليمان د ژوندون لاره — رب د ستر کوکې په ډک کړي
ځيرکان يې په لټون کې — تر عمرونو سر غونډ کړي

---

۱- پلن سوري = په پسات پلن، ۲- رګي = پرهار ژلی.

○

دی پکار څه رنګ اړیکی
د آدم له بل آدمه ؟
دغه لویه کشاله ده
او د ژوند لویه کرمه

○

آدم دغه قدر نه دی
انجړ بنجړ[1] ژوندینکی
یو مونډی[2] زه یم اوده دی
د بدلون پدې څانډره[3] کې

○

که آدم بې پوښه نړی
څه پیرمخی[4] رغانه وي
په ناتار د مرګ صبا به
میراث مرې هدایره وي

○

د بدلون پدی ناتار کې هم یو "زه یم" دې څونډې دی
که صورت دی یواړتیا ده نو دا "زه یم" دی مونډې دی

---

۱- انجړ بنجړ = الوول، ۲- مونډی = راکس، ناوی، ۳- څانډره = هستر- فریم سکلیت، ٤- پیرمخی = پیرخوړونکی، بدلیدونکی.

○

پیرخواره[1] یې له پښو یوسي

چې موندلی یې وي اومړی[2]

د کچه «زه یم» آدم وي

خپلو نغوتو[3] نه باد وړي

○

د آدم له «زه یم» پرته

نور هر څه چې دي نوربړي

له هر زبړي[4] د حجري نه

لکه ځان هسې رازبړي

○

هم برحق هغه ژوندون دی

چې د «زه یم» په غبرګون دی

که وجود دی که ستولنه

کار د «زه یم» یې پاڅون دی

○

چې د «زه یم» په شرنګ نه دی روزنګوری[5] د بدلون دی

د حجرو په کچ کې اوسي او د سترګو تش الوون دی

---

۱- پیرخواره = پیوخوړونکی، ۲- اومړی = اوم، ۳- نغوتې = جذبات - غریزې.

٤- زبړي = هغه څه چې زیږول کوي، ٥- روزنګوری = روزنه کوونکی - لویونکی.

ټول فطرت یې خوري تالیږه[1]

آدم نږی جدا جدا وړي

دځانی سود غم خوړونکی

له حق لاري پښي پښا، وړي

چې په نورو خپله ویش کړي

خپلې برخې نه سیوا وړي

چې مشال نورو ته جګ کړي

خپلې مخې ته رڼا وړي

ژوند او مرګ یې دواړه سنګلي

دځورلو چې دعا وړي

چې له خپل میوه آګاه وي

د بشر درنې په شا وړي

اوښتون[2] دژوند جامه ده

چې شي لټ، په هغو واوړي

---

۱- تالیږه = په جمع - تاله .

۲- اوښتون = انقلاب .

ډوندون په لویه لارکې
مشالونه بلول دي
د تیرو په تورتیپو کې
لښکرونه خپرول دي
کتابونه د پردجل
سوزول او بادول دي
د آدم نه د پیر یادګیري
د عمرونو هیرول دي
که مذهب یې هم سر وینځې
چې باطل دی نیښکول[1] دي
که خوندي دي په کعبه کې
چې بتان دي لړول دي
په هر پل د پرمختیاکې
برابرا[2] شوي غورځول دي
چې ښکېل شوي په غورځنګ شي
ښکېلکونه یې غوڅول دي

---

۱- نښکول = ورکول- په نیش لګول.
۲- برابرا = په پلنو ولاړ.

د سنډان تندي به چرې کړونځې نه شي
د درنو د پلکونو جوړ که پرې ناتار وي

د میړه نیستي یو څو ورځې نیستي وي
نه میړونو شاعري نیسمن او خوار وي

د رند و عقیدو خلقو کې همېش له
ښبتنان دغړېدلو به په دار وي

چې بازونه یې په لاس کې چتی(۱) کېږي
ځان به و پوښتي چې د اغرنګ بازدار وي

چې توره(۲) د حق ملا(۳) نو خپلوي څوک
یو قدم یې په چاپه، بل په انکار وي

خپلې سترګې غړولې ورله بویه
که رښا یې لار لیدلو له پکار وي

د رباب خواره دې نشته آدم خانه!
ښایي خلق چې له میلسه(٤) دې ویزار وي

---

۱- چتی = ورکوتی مرغۍ
۲- توره = قانون ـ لاره ـ منه
۳- حق مل = دحق ملګری
٤- میلس = مجلس

ننګيالی نه اخلي لاس له خپله ننګه
اباسين کله پښه نيسي له غورځنګه

چې تر څو د ظالمانو نوغي شته دی
حقملان راپسته نه شي څنګ له جنګه

پوهګړی د بې پوهو نه قلنګ خوري
او تول لاندې د کليمو[٤] تر قلنګه

چې يې مټ د غليمانو وي کتلی
نه ويرېږي يې له تشه ډنګه ډنګه

د مردی نوره ميدان کې لاسنه کېږي
خلاصه نه وي د کاټي[1] توره له زنګه

پخپل زړه کې زرغون شه او مسوړ شه
څوک چې نه ده لا کوټي[2] خاورينه رنګه

چې يې جسم د تن په مو ر کوپه پړ واوري
خو د هغه ته وي کړنجی د جهان تنګه

---

۱- کاټي = تيکی - چړتون

۲- کوټي = د داني کڅوړه

يو بري د يو جنګ غالى دى خوندي كه
بيا په بل ميدان برېښنا او تالندي كه
چې دلوى ښښتن د لاسو سره ښايي
شاځلميا! ځان په داسې كار بندي كه
په حجرو په جماتو نوكې تورتم دى
د ډيوې غونډې لمبه دې په تندي كه
د ميړه د ځوى آواز له خلقو بېل وي
څوک به يې ښنګه په تولنګې ګوندي كه
چې د خپل عمل لاړه[1] ستړې كړل
څوک به ښنګ هغه وګړي راژوندي كه
له غوجلې د ښارو به ښنګه وځي
چې په مينه مينه ښت ته غوړوندي كه
چې يې وېره د نورې له چا نه وي
هغې پاڅې بې وسان په ډاګ ګوندي كه

---

۱- لاره = لور

خپلې غوټې ته دغاړې

له خپل تنه پلواښه[۱] شه

د ټپانده اباسین خپل

لکه غاړې په ساته شه

د کړیز سختې په ځان کړه

پسته باز په الوته شه

په خپل ځان قید ونه کېږده

زرغونه شه او بیا شته شه

پولې راښکه، پانګې[۲] کېږده

بیا په زغاښت لکه مېړه شه

د ښښتن دلارې مل شه

له ښښتن ځنې لاړغه[۳] شه

په ریبلوچې ورک نه شي

په لوښنه[٤] لکه واښه شه

دختیځ له الا الله -

لا الله د پرېواته شه

---

۱- پلواښه = مرورې - پلکواښه، ۲- پانګې = مېړ- ډک- مرام

۳- لاړغه = لرغونې - وړاندې، ٤- لوښنه = خصلت - خوی

○

په ټولنو لیوګان که دي
هر وګړی لوی اوکړ[1] دی
لولنګ ځکه په نیش دي
درناوی چې په دوتر دی
ټول په تومنه آدم زاد دي
څوک تاله، څوک تالانګ دی
چې درنه ډله[2] یې مله[3] ده
د هغو سوی په سر دی
داکندی دی د بې ننګو
څوک یې موږ، څوک یې نهر دی
هر ټولنه پانګه واله
د ځان بدوله اشر دی
عقوبت به غرغنده شي
داچې نن ډګیا[4] سوسر[5] دی

---

۱- اوکړ= اولال، ۲- ډله= ګوند، ۳- مله = ملګري، ٤- ډګیا= لوګي.
کوونکي، ۵- سوسر= د ډېرو سپیاکو او د چې نري نري لوګي کوي.

چې زمانه ښکلې بڼې مومي
وا به نه خلي تورې څڼې
په کڅونو يې پسرلی شي
چې څوک ونغري سکروټې
خپله ګټه دي نن څه ده ؟
چې ستايي د نيکه ګټې
د يوه ماته، باقي سوي
د تورګټ سوي ډيوټ يې
نه نښتر او نه چنار شوي
څه د تورو خاورو خټ يې !
دا ميدان د تېرو تورو
ستا مصري توري دي سمتې
چونګ ايوه يې پاتې شوي
وي انکار د دړنې ستمې
حق ننګانو ته وريتېږي
د بې ننګ هر کله بتې
لات منات چې ګذاري څوک
شي پخپله يخې ګټې

خرې، ځکه شوې، خیالي نه شوې
د «لا» شي ځني شي نه شوې
د جنس ترغې نه نا مینده
تَل نڅه شوې کنی نه شوې
تشه شخوله ـ خالي تیکی
بمبل توره، توبرې نه شوې
له حجرې تر سرې راغلې
لا په «زه یم» سرې نه شوې
له مذهب چې ملستل دی
لدې مرېښې ژوندی نه شوې
انځاره کې چې دې پروت دی
هغه ستر آدم زی نه شوې
مېنګیری درته آسمان دی
ځکه باز، باتور زی نه شوې
هر آدم چې دې فرعون کړ
یې بلواک، ځانوکی نه شوې

---

۱ ـ انځاره انځور ـ زړې ـ نقش
۲ ـ ځانوکی ـ ځانواکی

د وګړو سالار پېړدی
خو سواره چې شاهسواران کړي
د کوشولاروکسو د ري
ځلن ستوري د آسمان کړي
کوکوشتان داوموختنو
سنډان سري اتلان کړي
لوړاوکوز سرې يو سيال کړي
اړوپيچ[1] واړه يوځان کړي
چې سړي پې نه سړی کړل
ړاغوزاړ هغه بُتان کړي
دلالونو په ځلقولو
د مشکنو بازار وران کړي
چې جس من پکې قدر نړي
راد بړ هغه دوران کړي
داد نوم مسلمانان تړول
پړ يبنتيا مسلمانان کړي

---

۱- اړوپيچ = خپلوکې په ضد ضدی - په غوټو پړ نرو.

په میروکې د ببر ګلونه راټوکېږي
سره پېوینو دلاله یکي جوړه ده
ننګیالي دي چې دلوی ښتن په تاریي
پوره کړي د نړۍ ټوله بار[1] ده
ته تنزړی یې، د نیاده د بازونو
ډېرې ځکه ژوندون دی اداره[2] ده
غزا وشوه که په نوم کلیمه کویې
زرغونه دي له ژوند کومه کلیمه ده
هوښیاري[3] په تېوړوند دی، ښکاره تر ښي
که نه یې نن هم پرته هغه دوګړه ده
دګزی غشي[4] دي هر وخت په سر دی
په دیدوان[5] باندي دي اره پره، وره ده
صبا اښکه د شولان ګټو ته مټې
که دې نن ګټلی قام لره اوګره ده

---

۱- باره = مسئولیت - ذمه واری - پړه، ۲- اداره = ورانه - ګټې - لوټې،
۳- هوښیاري = ښکاري، ٤- دګزی غشي = دوړې پړې ګوزار،
۵- دیدوان = شیش - څیرکوټه .

لکه خلق هسې ټولنه
لکه کوږ هسې يې غار
لکه اوبه هسې يې سوري
لکه پسنه هسې پيزار
لکه باز هسې يې ماري
هسې باز لکه ميښکار
لکه ږيره لاوڼ هسې
لکه سر هسې دستار
لکه توره هومره کټه
رشه هومره خومره کار
داوچت الوتو پانکي
دشهپرو په مقدار
د ديوې رڼا ترکوره
نمر په ټول جهان اوښار
د بې ننګه په رنګ د بړ وي
ننګيالي نه لري سار
چې د لارې اوښکو نه وي
په هغو جوړېږي لار

لا پې د پېروکړې کاندي
یو منصور خېژي په دار
د بې متو وار ځنډېږي
د مت دارو وي بې وار
د زمرو نه اخستلی
سورلنډی[1] شي کله ښکار
د آتیانوس باری وي
په ملخانو کړمار[2]
کلیمان نه شو ټول عمر
له خدايي چارو ونړګار

مذهبونه دي پوچ شوي غربینونه[3]
مذهبیان د خپلې ماتې بیرغونه
د هغو د "ړاتاندون"[4] طمع عبث ده
چې مذهب یې رواسته[5] کړېدی هډونه
په هغه سالو چې ځان لره دوړېږي
دي عبث د انځوړونو کړاوونه.

---

۱- سورلنډی = کیدړ، ۲- کړمار = یوغوردی، ۳- غربین = یوټوپک،
٤- ړاتاندون = بیاراغبرګیدل، ۵- رواسته = وړاسته.

له مذهب یې چې تودې وینې کتګل شوې
مسلمان ها یلل ملکونه سنګرونه

له مذهب ځنې لوی شرک په جهان نشته
لګولي یې په نیش دي امتونه

د مذهب د غوندلانو(۱) تنستو کې
ګل(۲) ډیوکي دي د علم د یوستونه

له مذهبه هک ځلمي تول ریزکي شي
ریزکونه کله کیږي لوی کارونه

تکی تکی د کتاب نن هم هغه دی
خو مذهب ترې نه وښکلي دي ساهونه

چې تر څو دغه مذهب او د املا دی
وي تالا به د تالا قامونو خونه

○

پوخ سنګر دی شاه مردي ده
توربازي دی تیغ بندي ده
له باطل د ځان ژغورنې
یوه لاره ملا بندي ده

---

۱- غوندل = غټ غمی
۲- ګل ډیوکی = د ګل ډیوي

له فطرته دي پېړده ده

له فطرته دي سرزوري ده

کليمه دي سرهيتوب دی

سرهيتوب دي سرهسکي ده

د بل غم هم د ځان غم دی

دا پښتو، مسلماني ده

◯

په ښروندی کليمه بيا خلق ښروندي که

دا له وارو ورستوشوي بيا لومړي که

دا چې خاوري يې له مخه نه چاڼېږي

د سپوږمۍ په دود مخونه يې پرقندي که

ورونه وروڼه سره غوښې په چاره کړي

له ټولينۍ ښروندونه وړه کونډ کونډي که

شاه ميړونه له زرګونو ستوروتېرشول

بېړي راښکه خپل ملګري ګرندي که

د هغې يې ننګه خلقو مرګ روا دی

چې ګزران د بل په سوي کرپندي که

د پسرلي درنه وريځه شه په خوی کې

ځان ورښت، کله بربېښنا او تالندي که

شاه ځلمي چې د آدم په ننګ اوچت شي
«شاه پلکونه» بیا زغمل په ډال تندي که

○

د هندو خلکو لاس تپول نه ده
د ستر کوره و کاګیره تلل نه ده
د ایلتیانو[1] کلي ورانول نه ده
د راسمنانو یې سمول نه ده
که اوندې[2] جوندې د دوپړک[3] وي
د یکرنګانو غوښې کول زده
مذهب له ځایه راغورزول کړي
کتاب یې ځای ته برخېښول زده
چوړ کوږکان هم کړاو لي کړي
لکه باز کله اوچت وهل زده
چې فرعونان یې موزي[4] کران کړي
نو کلیمان یې تورن نول زده
د آذرانو بتکورکي[5] تول
د خلیلانو کعبه کول نه ده

---

١- ایلتیان = پساتیان - ورانې پیدا کوونکي، ٢- اوندی جوندی = مزغروني چې غوښې نه منې نه وي، ٣- دوپړک = دوه رنګ - منافق، ٤- موزیکي = چې د هیڅ بنې نه وي تش کټ پړې ډک وي، ٥- بتکورکي = بتخانه.

○

دباتورپه څوشهپرو خپلولو

مښکېرک او غلیوان نه باتورېږي

دیو بُت په لړیدلو بُت غلیمو!

سومنا تو نه په کعبو کې نه بدلېږي

له کیکرو د نښتر پیوند خوړوکی

نښتر هیڅکله نښتر نه پاتې کېږي

چې په پرړ کو دي وژلي مذهبونو

هغه مرو په مذهبونو نه ژوندېږي

چې د زهرو ډک لښتي پرې راسوا روي

دغه سوي چنارونه نه تاندېږي

د قرآن واړه ریتلي عقیدې نن

د مذهب په کتابونو کې ساهېږي

د تیرو سرو ملستې بنا پیر کې نن

د رنا په تکې مرګ ته ببرېږي

شاه ځلمي دی نوی ځمکه آسمان غواړي
د زوړ شوي په ځای نوی جهان غواړي

د خپل "زه یم" سرهنګي یې سلامت یه
مرئیتوب نه - ملکیې د یزدان غواړي

ننګیالو کړه غاړه ما ته اطاعت ته
په لټون که د هغه دي خوځان غواړي

په دنیا کې یو کار هم ناشونی نه دی
یومخیزی[1] ځیګروړه ځوانان غواړي

کښالې غوښتنې نورې د آدم دي
ژوندانه نوی تفسیر د قرآن غواړي

په لښکو د لیشتینګو کښتې نه شي
د ژوند ستونځې میړنی قهرمان غواړي

په یو ماره که ګاوز شي، سود یې نه شي
چې ژوندي وي نوی ماری زمریان غواړي

---

۱- یومخیزی = چې مخ یې یوه وي - د یوې مفکورې .

عقل هغه وهندی باز دی په لاس
چې ډېر اوچت اوچت ښکارونه کوي
ښکته له ځمکې نه تر نمر ستورتلېز(۱)
کړاولې کړي، یرغلونه کوي
لوګېنز(۲)، اورېږه(۳) که یې لاره نیسي
له الوت کله پرهېزونه کوي
رهبر، کړاو دی ټول د عقل چې نن
بربېښ د ژوندي تومن غونه کوي
د آدم کار دی کائنات پرنړول
بر هغه قام، چې دا کارونه کوي
چې په فطرت یې ده لتی اړولې
د هسکو سترګو معاشونه کوي
عقل بهیر کړ غورځنګ د شعور
ویر ویرانې ټول مذهبونه کوي
پیاده له عقل کوم وګړي چې دي
د بل موټانه دې سوالونه کوي

---

۱- ستورتلیز = آسمانلاره - کهکشان، ۲- لوګینز = د ګازو ورېځ یا نیبولا،
۳- اورېږه = هغه نیبولا چې ستوري پکې په زرغونېدو وي.

حق نه په ځنګ، فطرت په ترڅې
تشې ځاندې وي، زور يې او به وي
عقل يې شل وي، هڅې يې کټه
په غټو کورې، ولې ړنده
نه پرې ودانه، که دوی ژوندي وي
او نه پرې وړانه که چرې نه وي
د ځوانمردانو د قط نه وځي
نه يې خوابږ وي، نه يې تراخه وي
په "ننی په نن" د وارو نيستمن شي
ځوراک يې خساک يې، خواږه او ښبنه وي
په زاره شخوند کړي، نوی تر ې نه شي
نوی بريد ونه خو د مېړه وي
چې يې ړاغوند کړې واړه کړلې
د يو ګنجکې دا ارزښت نه وي

د لسوګېنو د لړمون نه
اوربين ستورې راغونځېږي
ستورتيلېزې سروهي لا
کائنات لا پراخېږي
که يو ستورې ورژېږي
نوی سل راوټوکېږي
د ژوندون زرغونېدو له
نوې ځمکې سادېنېږي
چرته ژوند دی په بخښنچه
چرته کچ، چرته ځوانېږي
د زرها ستورو ميروکې
د ژوندون غبرې غږېږي
يوه ستا دا ځمکه نه ده
چې ساه دار پکې هستېږي
شنخړې ځمکې ښکته بورته
ستورتلينوکې څرخېږي
هغه ځمکه ستا دوتر دی
چې دي لاس ورورسېږي

عقوبت به له دې ځمکې
درته کړي په سر کېږي

د مېړونو ستوري بېړۍ دي
له سپوږمۍ ستوري تاوېږي
د يو نوي کور لټون کې
د آسمان لارې چاڼېږي
عقوبت دا ځمکنۍ به
ستوري زو ته ور سېږي

د ښوندون خوږمره رازونه
به په ډاګه وغوړېږي

قیامتي(۱) پاینده هغه اوښتون شي
لا الا سره چې کله یې برغون شي

د عبرت مړې یې کړې په ملکونو
کوم فرعون چې له کلیم په ستور برېښون شي

د اولس وینې نه بېښونکې هله ورک شي
دربړیا(۲) اولس چې کله په پاڅون شي

د او یارلي ښلي هسې ولاړ نه دي
د مردې کارونه ډېر په شواخون شي

چې په سین داوراو وینو شي وریږي
قافله یو قدم مخکې د ښوندون شي

که هر څومره سنګرونه له ځان تاو کړي
عقوبت د ځمکې تبې هر قارون شي

چنیشني(۳) عقیدې چې غاړه باسي
د هغو خلقو ټولنه مړیستون(٤) شي

---

۱- قیامتي پاینده = تل پائیدونکی، ۲- دربړیا = خطر- نتلی- ځیلی،
۳- چنیشني = چې چنا سکې پکې شوی وي، ٤- مړیستون = هدیره.

O

د دوران په زلزلو غروته رارغړي

په شکلني ډېروکې څه له ویاړېږي

تلناوونه یې رواسته، موږ یې خوړلي

چاړ کېږدي کې به تر څو پورې اوسېږي

د پرنسبتر په چورلېدو ځمکې له تللي

کچه ډېلي! په خپل خېز څه غلطېږي

د سور سین چپې دمه وښکه له یادو

ای فرعونه! چې کلیم پسې پاڅېږي

د ملخ ځانګ سړدې ملاشوله دوه غبرګې

ته لاځې دآتي بارته لاندې کېږي

لا اله بتکورکوته ښکرپوکل دی

که مؤمن یې ترور وستی بُت به جنګېږي

کلیمه یې چې په زړه باندې سنګر شي
هغه قام هغه وګړي او سپین غر شي
کلیمه د سړي برش د شین زمري کړي
لړو[1] بر ورته د ګډو خپور لښکر شي
کلیمه لکه بوټه چې د اکسیر وي
مِس ځوانان چې ترې نه وځي نو سره زر شي
ننګیالي په جهان پټي را تلي نه شي
دوی د هرې سرڅیرۍ[2] وتلي سر شي
د هر کور انغرۍ تود، تیاره شي وړکه
میړني ځلمي په هر لوري چې وړ شي
له تونګه[3] د عیسلي چې نمړۍ وخوري
که د ختو کو کوشتان وي په وزر شي
د مذهب د مدرسې نه هیله نشته
چې یو چینی هم د بدر لیچور شي

---

۱- لړ = کوز
۲- سرڅیرۍ = د جنګ غالي سرپه
۳- تونګ = شکور

دغلیم د برید او چینغی[۱] حاجت نشته

لاس تر کریو و چې پخپله سنګروال شي

دکور، قام بدخورمنځی[۲] په خان ناتاردی

په تیغه که باتوراڼ وي تش پیخال[۳] شي

تانک دکښتي، د یرغل یې دلاس وځي

چې دچار اتلونکي توري نه اتال[۴] شي

ځلمي وارو په خپل اصل دي لالونه

درون لو چې څوک نه وي کوټي لال شي

جماتونه، مدرسې او چینې د پرشول

خوله چا هغه بانګونه د بلال شي

چې دخاورو له کالبوته

او ده «زه یم» برسېرن شي

په اجل باندې جل را شي

بنیادم و لاړ شي تلن شي

---

۱- چغه = اپه ، ۲- بدخورمنځی = بې اتفاقي - اروپېچ ، ۳- پیخال = د باتورغل - غرباز ، ٤- اتال = په طمع - په اسره - معطل - ایسار .

O

دڅرونـدون دغورځنګونولوی میدان دی
چاته پُوله نه سپوږمۍ اونه آسمان دی
دفطرت غیږه پرانستی ده هرچاته
بُوددهرچا هم په قدردخپل توان دی
دا په تاده جوړوي کاڼی که توره
خپور چاپیره دجنګړیزواړه سامان دی
نیمګړتیا کړمی تولې اړ په مټ دي
مټ کول د بنیادمو پوره په ځان دی
چې يې زده دسورکو وینوکښیدی دي
دهوښۍ ډاګه کمی پدې جهان دی
دباتورلمڅی دنیاده بېله بېله
یودځوړې، بل دلوړې ویړی[1] شان دی
چې سرمزی د نوښت[2] یې په لاس درکړ
دلوی برید په ننداره دی اوس یزدان دی

---

۱- ویړی شان - ویړی انوونکی، ۲- نوښت - پیلات - ابتکار

چې د "زړه یم" ټول رنګونه
یکمانه شي یکرنګ شي
لکه غونډۍ چې چړې شي
اباسین شي په غورځنګ شي

○

سل مخونه یې چې یو مخ شي
"زړه یم" هله خان دوران شي
کائنات کړي د پښو لاندې
سلاکاره د یزدان شي

○

چې یې "زړه یم" په تنه کې
لکه بُت سلګون سرې وي
آدم زی شي سل لاریزی
له یو دره سل درې وي

○

د توریال زړی راخېژي په سوسر کي
د هوډی هڅې و باسی لاري غر کي

تور بریښنونه يي پخپله غماز کړ شي
مېړه کله پټېدی شي په لښکر کي

"ستوروڼا"(۱) کرښی د ځمکي کړله ماته
ښخوي بیرغ د ستوروخپل دوټر کي

مرجوڼا د نهنګانو له کاله نه
ملغلري راپنڅه کړېدی څادر کي

زمري خوبه په يوماري ورپيوځي
بله ماره يي نيولي وي نظر کي

مړدکي ، دارو ، ټټک او اوربشینه
دغه توکي د مېړونو وي سنګر کي

هره ونه خپله مېوه نیسي
چا موندلی دی کروسکي په کیکر کي

---

۱- ستوروڼا = ( یوه زن د مرجوڼا ) د ستوري وشکاری

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړدار هغه کوږکښان دي
چې شړوندي بنيادمان خوري
سړيخور په پټه يې نه خوري
سنه برسېر يې په ميدان خوري
د بې پرسه کلو خلک
څه مُلا ، څه دوتريان خوري
يووړی يې په شا پروتوي
بل شنې لښتې بارګيران خوري
د باطلو رواجوړه ده —
په برمته يې بې کسان خوري
روايات راپاڅېدلي
په حملو حملو قرآن خوري

د آدم په بدۍ ورځې
کليمان وارۀ خپل ځان خوري

چې په منډه د هوډ یالو ځي
لار یې خوډ کړې کړې وي

چې په څرخ باندې سوری شي
د هغو تورو لاښې وي

چې له اور ځني ونه ځي
نو هغه پڅې اومې وي

له چیو چې انګوڅه شي
پولادي هغه سینې وي

چې جنګړ یې ژوندانه وي
د برم دګې یې شملې وي

چې د مټ مجال یې نه وي
د هغو ناندرې کیلې وي

د باتورو هغې ګوره
څه که یو موټی تی بنې وي

چې وهي د تنګسې توري
په هغو کله تنګسې وي

چې ژړیاني یې تاو نه شي
نو هغه لیندۍ پرکې وي

چې وهي د تنګسې تــوري
په هغو کله تنګسې وي

سپوږمۍ، ستوري، ستورتيلېږي
د ميړونو بر آمـــــتي وي

د سر هنګو غورځنګـــونه
د تاريخ زرزريـــنې وي

د اخلاص د شاهسوارانـــو
منزل لوی، لارې توښې وي

چې منګل يې د زمرو وي
د هغوماري ســــکې وي

په راسمنو باندې غـــرونه
د مالوچو پاغوندې ـــ وي

پرناورې ســـنګر بايـــلي
ويښې سترګې پـليـــتې وي

دوزنګ تښـــتي کړن پرېانه
چې د بدرتيـــــې وي

د ميړونو لوی لاســـونه
خپله توږې او بـــلې وي

د ګيدړو په نصيب کـــې
د زمرو پـاتې درنګې وي

Reserved -1-

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې یې پښې وي غزولې
د هغو به اکې سپېرې وي
چې له ژونده ماتې وخوري
زور یې ټول په موسلې وي
د مړژواکو مسئلو کې
هم د مړو مړینې کیسې وي
کوښې هم ځان سره کوږ کړي
چې یې خپلې پښې کړې وي
دیوړوغ د سیالۍ نه وي
د ړندو که پرګنې وي

○

○

قام دلې دلې تورو تور بريښ کړي
دغه کمال د اولسواکۍ(1) دی
هر دليت خپلې دلې ته سنه وايي
دغه دستور د دله بازۍ دی
پلويان راوړي، ناحق به حق کړي
"قامي(2) جرگه" کې سوال د ليړۍ دی
چې "جرگه غړي(3)" ټول شته منان وي
وار هيواد دی ونډې ونډې دی
کاواکه دروغې واکمني دلې
څوک يې د مخې د کاواکۍ دی
د "سلاغونډه(4)" سيځلي لار ده
ولې هله چې د حق په تار ده

---

۱- اولسواکي = ديموکراسي.

۲- قامي جرگه = پارلمان.

۳- جرگه غړي = ممبران.

٤- سلاغونډه = د شورئ غونډه.

ولي هغه چې د حق په سر یې ننګ دی
واړه شړونډ یې د کتاب په رنګ کې رنګ دی
چیلي نا اوښکي په سمڅو، په لغمونو
ببل توره د باطل سره په جنګ دی
د جهان په "ډنګ قامتو" سراوښکلي
سالاري یې په نري پوري قلنګ دی
هم د علم په دنیا یې بیرغ جګ دی
هم چاپیره یې د ښه سرپیتوب ډنګ دی
هم یې کټه، هم یې مخ ملازي ورکړه
خپل پردي یې په نمانځنه باندي رنګ دی
د زیارت خور دو ته ناسته بې کتابه!
ستا کور لاري ولایت د پلي لنګ دی

منکران په دلیلونو منکران دي
او ملا د بې دلیل مذهب امام دی
روښان خیاله نه کافر دی، نه منونکی
د تسپو سره ګرزان یې له ناکام دی

هغه څرنګ به د بل کاسه کړي ډکه
چې يې خم پخپله وچ او نسکور جام دی

پوهنګړي توري تره‌بيري، څې په ډډه
چې مُلا ورښکاره کړي کوم اسلام دی

ليشتکی له ليشتکی مفکوري زېږي
ځان وګوره په جهان دې څومره سام دی

مذهبونه په کړي د نيمسانو
دشته منو د خوندي[1] کمتو سمام[2] دی

○

خدای څروندی مال يې ميرات دی
څه بې کچه ناروا دي

دي ډېولو چې د خدای دي
نه زما دي او نه ستا دي

دا د (لاد) دوران سر دی
دوتريان چې په کړ بادي

د هغو لپچي تاوېږي
له پېروونه چې په غلا دي

له زما، له زمايي نه
پساتونه په دنيا دي

---

۱- خوندی = په امن- Safe ، ۲- سمام = بند بنا

چې لېسين ترې لاس نيوکړي
شاه میړونه د الله دي
امانت د اولیا دي
چې له تا ځنې سوا دي

چې د حق او د باطل دغره راشي
د بې لارې پلار نيکه په لاره مه شې
چې توره[1] يې د بتانو لړول وي
خدای دې وګوماري ته هغه ميړه شې
چې يې غل غدو له ويرې بلوسه کړي
په مورچلو د قام وينې هغه ليمه شې
چې مړه واکې ولسونه پرې رغيږي
که يې سل ځله توکې، هغه تارخه شې
څه زرغني زرغنې کوې چاقهرمان ته
که ملا وتړې، هغه توريال به ته شې
غرونه غرونه وا وري هله به شي ويلي
چې د نمر پشان پرې سوړ په ايشېدو شې
چې يوه پلا ګنې ورمانځي اولس ټول
ته به هم د اولسيا سو[2] په وله شې

۱- توره = دستور- قانون ، ۲- په وله = په دوډې - پښنه ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې را شپېل دې په راشه د آسمان ښخ کړ
بیا به هله د سرې په نوم باله شې

چې د کړاو تندې خولې خولې شول
د قام جوشې بیا پلوشېنې شولې
د سربښندنې کرامت وګوره
د ازغو غېږې ګلورینې شولې
د پلار خپرې دې کائنات دي واړه
کاش چې دې تورې بیا پلرینې شولې
باتورزې خپله به راوزېږوي
که د پېروکې دې ماښېنې (۱) شولې
غږ او راغه یې شېخ مېلې ونیول
چې د زمري سترګې تندرینې شولې
د تورانې لېونۍ کوکې سره
ځانګې غرانګې سندرینې شولې
چې بیا په رحل دې کتاب وخاته
ذرې بې ارزه دې نمرینې شولې

---

۱- ماښېنې = یوغر

کلیمي لره ښوندي زړونه پکار دي
اوورله لوټې په پنډ کله پیدا کیږي

په خوږلنکي له بحرکو تو غرېدونکو
تر آسمان شړبه کوونکي او رتاند بېزي

چې پالنو د تنې وچ ځیلې زړوستې شي
په کړو وړو شپبونه راتو کیږي

د مذهب په کڅ خوړولختو لړو
د سرسوري د قاموسونه جوړیږي

هڅ ځلمي بویه بیرغ د محمد له
دا په خوار ولیشتکونه پورته کیږي

مړه یوکي مذهبونه
لاړي نه شي رهنولی
د بوډږ انقلابونه
آذر نه شي راوستلی

د ښوندون او یږدې کیسولې کائنات به چاپول وي
له موجود ځنې پیشنا به تر لوکیزی پورې تلل وي

○

چې په هغو شرعونو ننګ کړي

چې پرې کسرې وي وختونو

ګویا ځان له توزیتن[1] کړي

د کورونو، کفنونو

○

د باطل سره په جنګ کې

نه نیم سول شته، نه سرغړ شته

د خلیل مټ دي تود اوسه

د آذر چې بت کړه شته

○

د رندو عقیدو بنارکې

انقلاب رابرسیرن شي

د زړو خدایانو مخ چې

ولسات ته کرغیړن شي

○

بتان شي د ځمکې تبی

بتګورونه رانسکور شي

چې د زړونو په ورشو کې

حق زرغونه شي، سمسور شي

○

(۱) توزیتن = بندوبس

○

خلیلان چې له تـهولـــنې

د خدایانو وېـهکول کـــړي

نولومړي د دې خدایانو

خدایي ورپوچ کول کـــړي

○

کلـیمان دفـــرعـونـانو

پاچایي هله غـــوزار کـــړي

چې بې لاړې ولسات تول

د دلیل په زور په لار کړي

○

دکلیم د درنې پـــرګـــ[1]ـي

خلقې وې وارړ زبـــرګې

هم یې کتـــه ، هم بخښـــنه

هم یې مټ وي هم یې سترګې

○

چې د وخت اړی کـــړي کې

بچای تینګ لکه د غـــرو

د خپل پوخ «زه یم» په مرسته

د همه پرګـنو ســـرو

○

۱- پرګې = پرګنې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسې تش د عقل اندېښنو سره
ځې په تیاره لاړ او ړاو ړکو سره
عقل که سقراط دی، بریالی نه شو
ګړیوی په لاس د پرشو کشالو سره
ستونځو د ژوندون له برمه پرې یستل
دل یې چې سپوږمۍ ستوري کړل پښو سره
لا تر اوسه لرې له خپل ډګه یې
لاړې کله مارکس، کله روسو سره
کله په یوې کله په بله ځې
درومې دې نیلې د بړیوکو سره
ویې اوسېږې وچې شې لنبې کښېنې
عقل چې بلد شي الله هو سره
راشه د کعبې درشله ونیسه
مل شه ای ځیرکه کلیم زو سره

آدم زی له مړئیتوب ځنې آزاد کا

د "مَاکانَ لِبَشَرٍ"[۱] سبق ورته یاد کا

چې د بل د خولو وږم تې را اخېژي

د هغو ماښوکړ لچو خوړ بنیاد کا

د آذر د بُت خانې لړولو ورستو

شړی وړاندې کور د خدای آباد کا

چې صبا په غږ قېدوشي کلیمه واپې

د دوران فرعونانو ډېر خدای را یاد کا

په لوخړو کلی پټ، په وینو ږوب دی

د کوچنی فکر سالار دې څه فساد کا

د مرې په ځای څښتن چې زورتېریسی

د عمرؓ انصاف به غل عقوبت ساد کا

له کرېوانه د فطرت یې چې لاس وښکه

هغه قام به زر په غاړه کِندکچلول کا

لا اِلاّ چې یې توره شي د تهولنې

هغې ډب به یرغلونه د منګول کا

---

(۱) (ما کانَ لبشرٍ ان یؤتیه الله الکتاب ... ثم یقول للناسِ کونوا عباداً لی ...)

(c) ketabton.com: The Digital Library

حق باطل تورېږي تور بړېښ دی تل راغلي
حق به نه وي چې باطل سره نیم سول کا

د هر قامونو نه دي غوندي او بو وړي
په سین غاړه له بار کیږ خوشي پرزول کا

رسېدلی په خپل «زه یم» شاه مېړونه
باچاهي زرغون د خاورو له کنډول کا

دا کاني یوازې تېرو خلقو نه کړې
خلق اوس هم په ژوندو لو نه ښخول کا

د دې کلي خلق ټول سره پخواره دي
په پور دو فصلونو بلوسي خپل ته شپول کا

○

چې ځانکړي سود پسې یې شي وکړي
په تولنه کې سوراوو په غورغنده وشي

د شته منو شته مني چې خمار وکړي
انقلاب د نیسمنا په راتلو شي

چې بې وس دې دوسدارود سیالي شي
د زردارو تېپي دا کله پیرزه وشي

دو تریان د لونګو غمونه نه خوري
له لیوه کله زره سوی د شپنګو شي

زر داري د پردو وينو لوی اغيږ دی
اغيږلي عقوبت په چاودېدو شي
الا مې د او ښتون د قلِ الْعَفْو ؟
دوترونه چې ورو-ورو په کمېدو شي
هغه کار چې کليمانو ته اتصال دی
هغه کله له مارکس او له روسو شي

له د ستور د باتورانو چې يې پک دي
خود په جاله کې پيدا يې مښنګيرک دي
چې يې ژوند د خدائ لارې په لاروي
هغې سيال دی، هم برخېن، هم په خپلو کې دي
د مېړونو لار دې اکي آسماني لاره
مزغړوته لارې تل د دوپړک دي
له ساده ايمانه ځار يې فلسفي شه
ځښتنان چې دلروکي د بتک دي
شپنکي کوره غرضونو شرمخان کړل
په برمته ارم په غوښو د کندک دي
د ننګيال واړه کارونه هلې ځلې
د نيمنو، بې اسرو په کومک دي

تور[۱] ښنکلي پرې برې راولي نه شي

چې د بدر، د حنین توري ترملا دي

الاجي غونډې دا نه راوړې یوځای له

شاه ځلمي له شاه ځلموکه شا په شا دي

ننګیالي د سر زړوکي د تور سرو

ننګیالي ځکې شملې داولیا دي

فرعونان یې چې په مکر کوټ ښکار کړي

زړکول یې بیا کارونه د موسیٰ دي

یو کتاب و چې امت پرې یوول راټول وو

یو کتاب دي، او لړه[۲] دوه اویا دي

هر دلیت[۳] د خپلې دلې د وزړې[۴] وایي

او اې خلق حریان، چې تر څه رښتیا دي!

---

۱- تور ښنکلي = چې توره ښنکل لري د باطل ځواکونه .

۲- لړوه = ګوندونه - دلې .

۳- دلیت = د دلې غړی .

٤- دوزړې = ثنا - صفت .

د ژاږې(۱) تنګسې کړښې کې
څوندانه کله ځائېږي
څوند غځېږي، او چتېږي
ژاږه خوري او سمسورېږي
د ژاږې وجود د خير دی
چې پرې "زه یم" شېرازېږي
د وجود دنیا تا غېر خوري
"زه یم" کله تا غېرېږي
د څښتن په لیکه "زه یم"
خپل قامت وته رسېږي
د ژاږې ځاندره شي ړنګه
"زه یم" هر کله پائېږي

پله د خدای ماتې خوړلی نه شي
څوک یې ترلی پرانستلی نه شي
توره به ستا د موزیکې توره وي
د مېړه توره پخېدلی نه شي

---

۱- ژاږه = (لکه واوره ژاږه) ماده - چې زیږ ول کوي - *Matter*

دګید ړبرخې دی هرچا وخوړې
دزمري برخې څوک خوړلی نه شي

که بُت خانه د پلار نیکه ده نوهم
خلیلان غلي کېناستلی نه شي

چې یې بیرغ دالاهو رپېږي
څوک په سنګرېې ورختلی نه شي

زمانه هرڅومره که مخکې ولاړه
له کلیمانو مخکې تللی نه شي

دغیرقامونو دکټ پښې ته ناسته
تا عزت داره څوک کښلی نه شي

دخیګونو(۱) خاوندان چې اړ وبیچ شي
رسوي به څوک جاله وایه څکو درته

ځاني سود چې مدعا شي دوکړو
بیا څوک اړوي بلږونه پردې ورته

په زنارکې تسپې وپیلې خلقو
یو مخیزې مسلمان چې لاړشي چرته!

د خلیل نوم دثواب دپاره اخلي
ژوندانه دي بتول ناري وهي آذر ته

---

۱- خیګ ء شناز

خدای دي توان د مېړونه یات د شاځلمو کړي
چې په نره ورکېوتي دي لوی غر ته
د کلیم د پرې خلق هم هغه دي
نیمګړتیاوې چې د خدای رسوي سر ته

بیا پېزار د محمد (ص) په وینو جب دی
د طائف خلقو دی تیږې بیا ورولې
دا جنډې د کلیمې چې چرته رپې
دا د بدر له میدان راغلي ستولې
د کعبې په توره ګټه لوظ کوونکو
د سرونو په بازو غارې خلاصولې
صدقه د وینو سرو د پتیالو ده
چې نن قام د خپلواکۍ خبرې کولې
د سمسور فصل رشه پیمانه کېږي
د تش تورکي پیمانې کله چا کولې
سمندر یې خیرې غوڅ کا خپلې غېږې کې
که او به دالګه و رځي ختولې[1]
ساقي خُم ته د شاکاسه سره ناست دي
خو که سترګې لیونو بیا وغړولې

---

۱- ختولې: چې د ختو لهو ړکې وي.

پڅه مه شه د توریال د مړدی توره
د منکرو لا ولاړ دي سنګرونه
د ښروندی مفکورې[1] خپله دومره ځواک[2] وي
بې لښکرو کړی ړالای ندي هیوادونه
انقلاب د کلیمې راغلی نه دی
ځي راځي بوربوړکي انقلابونه
یو بیرغ د محمد[ص] به تل رپاند وي
نور د ځیلمی[3] دي باد وړي بیرغونه
هم پوهنګ د کلیمانو پوخ تلن دی
رارژیړي نوراومه او پړه رنګونه
سرچینه یې چې شي وچه، ړنداوی شي
په غوړمبا روان اکاو[4] اکاو سیندونه
د تاریخ په اوږدي پلنې هدیره کې
بې له شناختې[5] دي پراته ډېر اولسونه

---

١- مفکوره = نظریه - فلسفه، ٢- ځواک = زور - قدرت،
٣- دځیلمی = بتول - سراسر، ٤- اکاو = بردم - ډک،
٥- شناختی = خازې

د هغو قامونو بڼه[1] د بڼې شي
چې لیندۍ یې د ځلمو شړوتې پرې کړې شي
چې یې ګډې مفکورې او هلې نه وي
د هغو د خپلواکۍ کوږې جنډې شي
راسمني د مشرانو چې یې نه وي
ښې درنې پګړې پلرینې یې ښڼې[2] ښڼې شي
لا شه تورې بنیادم تشې کاټې شي
چې په برخې یې ژونده عقیدې شي
د شادو غوندې پېښې کړي د قامونو
چې یې جس د نوښتون بسمې بسمې شي
څه په څه دي له خاورینې ډېوې کړه
له ډېوې نه عقوبت بلې ډېوې شي

کوچ شوملي[3] سره بېل بېل کړي
زمانه د شړوند شاربل کړي
د مېړه لاره یوه وي
چې څه کاندي هغه تل کړي

---

۱- بڼه = رنګ، ۲- ښڼې ښڼې = ریښې ریښې، ۳- شوملې = تروې- شلومبې.

چې په ښکار د شهزاده[1] شي
هغه دوه ژبي ساتل کړي

په فرعون ګاندي نسکوره
چې دستور د کلیم خپل کړي

دره یونیم په نیزه وړي
که آسونه د پېر تېخل کړي

د ښې ورځې په تکل کې
خلق توري هم ګالل کړي

د کالا کوتر و ته ګوره
چې په نمر پسې غپل کړي

د باتورانو نوغې[2] دې خوړکړ
درته دې پاتې تش پېخالونه

دلبه[3] مرداره څنډوې لاس کې
تش تېوسان پرې کوې سود[4] ونه

د چتو ښکارې دوګزې نه کړي
هو ښايي ګرځې نيسي بازونه

---

۱- شهزاد د ... ښکیا ولی دکتاب نوم ، ۲- نوغې = اصل - نوغی خوروله - ښېخ وړکول ، ۳- دلبه = غوښنه - طمه ، ٤- سود = مینه

چې پېرې اړې وي د باتورانو
نه ښکاري هغه د ننګ نښترونه
له خدای اګاه شول او نه له ځانه
طالبان وايي کوم کتابونه؟
غرابين زنګ شه، او توري پښې
پاتې ملا دي، يا يې بانګونه

وګړي کوږه په غوږنو وپړنو
نمري له يوبل ړا شوکول کړي
کارونه واړه د لاس بري دي
څوک شي سکوندلی او څوک سکوندل کړي
دښته منانو د ينګان راپنه دي
دښمنانو ونډه ويشل کړي
يو پنجور هم خپل نوغی نه خوري
آدم لګيا دی آدم خوړل کړي
څوک په خمڅو[1] پسې ړانده شول
څوک په اوږمکو[2] کې شونډه[3] وهل کړي

---

۱- خمڅې = د نرو جوارو ډوډۍ - خوار خواړه، ۲- اوږمک = غوره زېړه خوراکه - شاهي خواړه، ۳- شونډه وهل = لکه څاروي چې په ګیاه کې تشه خوله ووهي، ولې خوري يې نه.

د قبر ځای د لولنګر نښته

ځمکه وال ځمکې را انغاړل کړي

دوریتو غوښو د دوزې خېژي
خالق آخر به منځ ته کېدل کړي

د ځمکې مخ چې په بلوا ړئ
دا انقلاب دی، هم دا پکار دی
چې سپور او پلی سره یو سیال کړي
هغه ریښتینی کاروان سالار دی
وارته دي شه له زړغی زړغی کړي
نن را اوچت شه هم نن دې وار دی
مېړه د عقل، غوښې د ښکار خوري
د عقله پلی پخپله ښکار دی
هر سړی ځانته تر خزه توبزي
یو څو ماړه دی، نور ولس خوار دی
کلیمه وایي په شرنګ یي نه دی
یو سر او بل سر عالم بې لار دی
د ننه په تن کې زړې زرغون کا
بهر بیا کوره څه رنګ بهار دی

ژوندانه کله بیلتون کله کډونه دی
کله مل شه د تپولني کله بیل
که دې زور د نړهاني بدلولو نه وي
د دوران کوڅړی خوره او شه بدل
در ناوي او سپکاوی په جسوارډی
ستا په لاس ده که ګټي اوسې که نسل
نشه توره ګوری لاردګټې نه ده
توریالیه! چې څونه شولی حق مسل
ساده، هغه چې په خولویې دتندي خوري
تیار خوړی د همه ولسیا غل
دیکرنکوکوکل پاک وي تل له ویرې
در غلان او دو رنګان وي په زلزل
ته ویله وې چې کوچې ماهیوان بارکړې
اوس وهي به یې دایلبند شمال او ربل

حقتولني حُني پرته هرنظام کې
بنیادم له خپله ځایه راغورزیږي

## د ککوړي د سړي ټوکړي دپاره

آدم زوي بل آدم وته ټیټیږي
یوشته من دی چي ټولنه کي ټولواک دی
نیسمنان خو په جغ شوي تل اوسیږي
د ناچاروکته باندي کتوي باندي
د چارمنو کتوي بي اکتي پخیږي
د بي وسو د خولو په تړمو خاشکو
دوسدارو ماني رنګ، خمي ډکیږي
درناوي چي په موړۍ[1] یا په دوتروي
لولنګر به په کنجیکه خود ارزیږي

بې اسي آسمان ته غرهیدي غرهیدي اري
په ظالم چي به لاکله نسکوریږي
په زوخړه به بي غرونه شي ټول ویلي
په لړمون د ځمکي داسي اورختیږي

بې ټولني ژوندون څه دی؟ شنه پسرلی دی
بې ټولني بنیادم څه دی؟ نه شی دی
ټولنیزه ژوند سمسور د سړي جس کا
د ټولني مدعا واړه سړي دی

---

۱- موړی = پانګه،

په ټولنه ریزکي لوی قهرمان شي
بې ټولنې قهرمان هم لیشتکی دی

چې ټولنه دې آدام په کلیمه وي
هله وایه چې خپلواک د آدم زی دی.

د ټولنې سره مل، دځان ځارن شه
چې ستا «زه یم» د شړندون ځانګړی شی دی

چې ټولنه یې باره(۱) دارتیا(۲) نا خلي
هر بنجمي خپل چاروکي هندوکی دی

کلیمه وار نړۍ یوه کورمه کړي
دیوې کورمې خوتل یوانغری دی

دا زغوله ویخه سترګې را ټوکیږي
د پسرلو لاره دغنو په چا په وي

د نمرود د خرخشو به څه وي پېږي
سرې لنبې د خلیلالله نو خوراکه وي

سامري د زړونو پټ غلونه را نیسي
د مړیو پیت پرک هم په تیچه وي

شرق ناتارېې د وختونو نیمه خوا کړي
انقلاب چې یې په نیمه کلیمه وي

---

۱- باره = پیښتی، ۲- ارتیا = ضرورت- نیګرتیا- کرمه.

ارکجه چې نظامونه د نړۍ دي

ولسونه خوښ خود يې ارکجه وي

د شنډي تخم کرونکي    عقوبت وي برخه شنډه

خېز يې څه کړي چې نه مومي    څوک يې ويزي له درست ونډه

چې د مال اوښوندانه د واړه زکات شي

سرلوړي به دې هله په ولسات شي

چې نېستي د ښمنانو نه غوڅېږي

او ردي پوړي په داسې خير خيرات شي

ولسونه په مېړونو ښوندي اوسي

چې مېړونه په نيش اکي، خود ميرات شي

شريعت چې په انډول[۱] د خپل وخت نه وي

عقيدې واړه ذکنتې لات منات شي

د ښوندون پانې په خپلې سکې[۲] کېږي

هغه ورک دی چې پيرې يې په ميرات[۳] شي

چې يې منډه نه له دين نه له ساډينه

د ښوندون خواږه په داسې ولس قسات شي

---

۱- انډول = توله، ۲- سکه = سرمايه - راس المال، ۳- ميرات = Grace - لږه وربخښنه .

د هغې اوښې ملامـا ته عقوبت شي
چې يې بار له خپله توانه ځني زيات شي

هرغوږځنګ[1] ته دورنګان ورننوځي
ځان دې پوهه په دې ټکي هرسالار کړي
تا بيا کرانه د بهر د غليم نه ده
کور غليمې په اتبار اتبار ګونه ار کړي
د دورنګو[2] وي نظر په خپلو ګټو
کله غاړه کې تسپې کله زنار کړي
چې د ننګ خبره راشي کورغاري شي
تش ميدان کې به د ورو تود بازار کړي
تا ته لاپې دياري وهي سوګند خوري
شا په شا دې له دښمن سره روزګار کړي
دوه مخيزه شروند په نه شروند ون ليکه[3] دی
يو مخيزه شاه ځلمی يو مخيز کار کړي

---

۱- غورځنګ ، تحريک - خوځند

۲- دورنګ ، دوپرک - دوه ژبی - منافق

۳- ليکه ، حساب

O

هم خپل جسد سرټوب خاورې ایرې کړی
د دورنګ عمر په ځان باندې ستم دی

ښستن ټول د قدرو ړدې پیدا کړي
یوسړی د بل سړی نه په څه کم دی

ترپیمار[1] د فرعونانو دود دستور وي
که ولس یې تل زغمي، نو ولس ګرم دی

ستور تلېزوته چې لاس شي رسولی
ولې سود یې په ګلونو د شړشم دی

باتوران چې د کونترو ځای له راشي
ای ویړلو! زهرو چاودی د غه غم دی

دې ټولنو او دودونو لیشتکی کړ
کمنی لوی له کائنات بنیادم دی

په لویدیځ کې لبز له عقله زنایي ده
په ختیځ کې د هر لوري نه تورتم دی

O

نمړیتار[2] چې د فرعون وي زمان نه دي
زمان هغه، چې فرعون یې ورکول کړي

---

۱- ترپیمار: وهل ترل، ۲- نمړیتار: د بل د ودې ته ناست.

چې يې جسه وي جابروته تېتېږي
چې جسمنه وي جابر را بغـول کړي
چې د بل په سترګو وينې توېل رانده دي
روغ هغه چې يې پخپله څيرول کړي
نه سرې شو چې سرې يې خدايان کړل
چې سړې وي نو بتان نسکورول کړي
چې بلزونه کړي تنزرې، بازوان نه دی
بازوان هغه چې تنزري بازول کړي
ننګيالی د شړوند نيمګړې هم پوره کړي
او ولس په خدائي رنګ کې رنګول کړي
په ذروکې يې چې ستورې زرغون نکړل
هغې خوشې لورپه لوټه تېرول کړي

○

ډکې ډکې جولې خلق ځي له درمـن
برکت دې شه ننګياله په رشــې
ښا پيرکۍ په توروځمځوسرنښـاسي
سورپيا شه ختيځ رانولي پلوشـې
د بازونو باتورانو بدې قات کـې
ټپوسانو ځنې غـوره دی باشـې

د دروغو، د ناحقو منزل لنډ دی

ترڅو پښې راټينګوي بې مشمشې[1]
لا ليدلي بې بورسترګی کليم نه دی
څکه کړځي فرعونان لا په نشې
دحق د وګه له خپل ځای رقولی نشي
د باطل دا شد تونه خرخشې[2]
اروپيچ چې له نقشې د کائنات وي
په بل مخ شوی د نړۍ هغه نقشې

چې د نمر سترګه وبرېښي
غروبه وا وري کاندی ويلي
حق بريال پرون هم نن دی
کې نښته څوک په سيلي[3]
داوبو د مخ کيل نه دی
کليمه د کانړي کيلي[4]
د نښتر د سيالی نه شوي
که په خېز شوي ډېري ډيلي[5]

---

۱- مشمشه = پروپاګنده = ډنډوره ۲- خرخشې = جنګونه، ۳- سيلي = ملاتړ
٤- کيلي = کرښې، ٥- ډيله = يو وابنه.

بدخوګ بدو نه نه وایـي

خلق شوې داسې ایـلي

چې رنځور باوېړي[۱] وکړي

پوچې شي د دارو هیـلي

له پولاد اصیـلي زیږي

خړې نه زیږي اصیـلي

چې نښتر له برمه درومي

نه ټینګېږي په یونیـلي

لکه کس کړي په ځان غاړې

هسې قام په ځان کانې[۲] کړي

د هرچا تبر له تن دی

خپلې سپینې خپله پرې کړي

هرڅوک قبر ځان له کني

هرڅوک خپلې جنازې کړي

غلیان له کوره زیږي

پلمه بازخه له پلمې کړي

هرڅوک ځان ته تبې[۳] سرې کړي

بیا یې ځان باندې سرې کړي

---

۱- باویړي = د ناروغۍ بیاتاندېدل، ۲- کانې = شندې غاړې، ۳- تبې = د کټې تبخی

ښه عمل بري ښکاري

ښه عمل په غاړه پري کړي

ښمن ظلم تيري نه کړي

هرڅوک ښه ديوي مري کړي

د فرعون دکور له درنده[1]

کليان جګي نيزې کړي

○

په مسور[2] و باتور نه ړنګوي نوکي

د تنزړوتودي ويني يې مسوروي

د ننګيال کرلي ښځي، سمسوري

ميري وان او سپينځي که سوسر[3] وي

د دوران تا بيا دغه چا د وس ده

بې غښتنو ژوندون چې يې نظر وي

د تاريخ ټول نرزري پرکوونه سپي

چې مدام د ننګيالو موټي لښکر وي

منګوان به خوشحق د لاري تښتي

د هريولار به آخر پدي خيبر وي

---

۱- درنده = غولي۔ جوس .

۲- مسور = دمنوکونو رنګ - نيل پالش ، ۳- سرسر = دوکيا کبدونکي اور .

ځلیمه لوی چیناګر دی تل ترتله په غور ځنګ

سوسرونه پری سپرلین دي سیمه سیمه پرې ګلرنګ

○

دکشر مشرفرق خوخود وی

ښستن لومړی دی او رپسې تنه يې

دیونه کچ یې په نور وبـــــره

هغه قچیره، څواکمن مبره يې

چې دی خویونه د هغه خپل کرل

هله په ولی یې، هله به شته يې

څکه دي غوره[1] خپل سرا خلي

د هغه مټ یې، د هغه کره يې

د هغه مل یې، په زړه بسیل یې

له سین زرغونه بربوکینی نه يې

په سپکو کانو چې ځان دي تولي

دا له خپل ځایه لا خبر نه يې

---

۱- غوره - تورتهمت (... فلم تقتلوهم ولکن الله قتلهم ...)

په درست عمر کې بونړه[1] دی نه ده کړي
دادی بازدی وهنده او دامیشکاري

یو قدم له ځپله ځایه مخکې نه شوي
ډکانې غوځکي يې ټول عمر په لاري

نه دی برید، نه دي ولجه، نه دی مبنودڅه
هسې لوټ[2] يې او ډمکې په مخ باري

څه که ځان په سرو مهرانو باندي نيسي
په نظر د صرافانو کټ بنګاري

حج، مونځونه، تلاوت کړي روژې نيسي
ولې اوس هم زناري يې، بت ګزاري

لږه پښه ونیسه فکر له ځان وکړه
چې داولې له همه قامونو خواري

چې همدغه مذهبونه دي اسلاوي
لکه ړوندله کړنګونو به غوزاري

دغلیانو په مسودونـــن
چې زنارونه وُ، هغه تسپې دي

---

۱- بونړه = لومړي ښکارکول، ۲- لوټ = يې هدوکو ځانده.

ــکتاب کښلی، باطله کړي

دکتاب مینځ نن هغه کیسې دي

انځور هم هغه خدائی انځور دی

ولې پرې شوې پوچ کښېدې دي

چې خلیلانو راړنګ کړي

دا منتیانو هغه کعبې دي

دا چې یې ږوبن د کلیمو خیږي

چې ویخ یې کوړې بې کلیمې دي

د مذهب شروتې لیندې په لاس دي

ځکه یې ویشتې تل مُوندې دي

چې حق ننګي وه ځلمي وغشي

چې بې ننګي شوه ځلمي ډُرمې دي

د باتورو دور تړل دهر

لږه ناسته یې په ځاله

د ښوند برړ(۱) دکې، راځي پتې(۲)

د نصیب لیکَ ته اتاله

چې نیستي په هستي مارلي(۳)

څه به خلاص شي له زواله

---

۱- برړ = سیالي، ۲- پتې = ورورستي، ۳- مارل = حسابول .

چې یې ټکره کلیمه ده
ولې نه دي ټول راټاله؟
بازاري دې خپله ستایې
په دېوال له تش پېغاله!!
په نرۍ باران پسخه شي
اوم غړن لوښي کلاله!
د بل کټې ته په طمع!
هېڅوک نه کټي یې تاله

خوارډه برسېره کا، ترا خه به ورک شي
چاپېر ټولنه که هرڅو ترخه ده
تیرې به وي ترهغې څلې څلې
چې دي دیوټ باندې دیوه څومره ده
حجره، جمات کې یې رېښتیا وویل
له یو مغز نه ولسیا خپه ده
د رابیا کې بورجل ته ځان رسوه
که لار د سروغنو چاپه چاپه ده
د صبا لاره څوک دب کولی نه شي
منه داوخت تکه توره شپه ده

په سپوږمۍ کوزشه مېړنی وويل
دا د برتنګ لارې لومړۍ کړپه ده

ښه عمل «زه يم» نرغون کړي
بد عمل د «زه يم» ژنګ شي
چې په «زه يم» شهسري[1] شي
دوه جهانه يې قلنګ شي
شي تالا ترغه په «زه يم»
چې دوه مخی شي دوړنګ شي
بيا د «زه يم» ژوندانه دی
چې کالبوت د خاورو رنګ شي
چې سمسور يې «زه يم» نه کړ
د وجود سره چنګ و نګ شي
مرګ يې هيڅ کولی نه شي
چې د خدای په رنګ کې رنګ شي
په خپل «زه يم» باندې ننګ دی
په څښتن که د چا ننګ شي

---

(1) شهسري = سترسړی - لوی سړی.

○

ګڼبيده پرې ستاعمل دی
که دې "زه يم" سرانځور دی
شوسره هسکه دلې هورې
چې په "زه يم" کې سمسور دی
چې ځوانکه[1] يې شي تورکې
تش لمنی، هم مختور دی
ای دخپتې غم خورکو!
خېټه هم، خوشروند څه نوردی
دې آدم، آدم په زه يم
بې له زه يم دآخور دی
چې دتش نس اودنوس شي
سرې ذات پورې پيغور دی

○

دمېږونوتېږوتوروچورنګ يو رل
دانې په امبالې چې غوړمېږدل
دهغوشاړوبڼه بڼه الـوزي
سرچپه چې جوړه بازته نيغېدل

---

۱- ځوانکه :- دزړې ياتخم هغه شونې تيا چې زرغونه ترې کېږي.

د هغو په طبيلو خروڼه رغبـــتي
چې له حق څني ناحق ته اوړېـــدل
چې خوړلي سوګندونه يې د وفا وو
دار يې يښبي په اوږو وګرځېدل
د رندو کلي کې ګراني خرمهرې وې
او لالونه په سوپيا کو خرڅېـــدل
د کليم په برخه دا رنګي مڅړواک وُ
چې له واکه بې واکۍ ته پسخېـــدل

د مېړونو پولادي متې سنګر وي
تور بريښنونه يې شملې د قام د سر وي
په پوړونو د جمات خوبونه نه کړي
يرغلونه د باطل چې يې په ســـر وي
د مېړونو نغرې کونډرې شړيکۍ وي
شيخ ملې دوتر يې واړه يو دوتر وي
مخورد ړماني هغه تومـــن دی
چې پرانستي يې په درستي نړۍ ورو وي
د ږزم چينه به يې هم چرې تاند نه کړي
چې بچيله ړوستۍ څېلي د نښتر وي

په نیزوکې یې دوه ځنګو ستوري ولاړ شي
ننګیالی د نمر خاته ختلی نمر وي

که د ځینګان لري هر څو ستړي وزري
لویږي ماري د باتورو په ځیګر وي

چې کاسیر وي په پړوني کې بربنډ وي
حیا خپله حیاناکو له څادر وي

پردې بد شي د کټوی خپلې ننګولی(۱)
بدي کړوني خپلو بدو له اشر وي

د میړونو د څنګوټ هم دغه دود دی
یا د هیږ پتول ماړه یا پتول نهر وي

○

چې یوه یې مفکوره وي
اوله دې نه په ادب وي
په سره کې کنجي(۲) لاس وي
په توده کې یک(۳) جلب وي

○

نه نوره د کائنات ده     نه د شرون د دستور او لاره
چې یوځو دې په وله(۴) وي     او د نورو برخه خواره

---

۱- ننګولی ـ پڅکړې ـ لمده بل، ۲- کنجي لاس ـ خپلوکې کلک لاسونه ورکړې.
۳- یک جلب ـ چې آسونه یې څنګ تر څنګ روان وي، ٤- په وله ـ ماړه ـ هوسا.

د میړونو لار[1] لومړی توری وهل دي
چې نړۍ په ولکه واخلي نو ویش کړ شي

د میړه نیکه دوتر چې شته کول غواړي
هغې متې بډې راکاږي او نر شي

د قام مشر هم د قام په جامه بو[2] یه
چې ولس یې د شړه وي، شړ یو رشي

زمانه که ببر شوی اباسین شي
شاه ځلمي ورته پښې بنجې کړي توږ شي

چې په ننګ د لا اله وي غزا هغه
نور خو هسې خلقي خوشې ککر شي

د سینا په دونهه پنده تول سر بری
دیوې دونهې ترنځه یو تبر شي

برغو[3] پوک وهه، د ننګ ورکا نغارې له
دا خواره واره بنجخی[4] که لښکر شي

---

١- لار = قانون، ٢- بو یه = پکار دی، ٣ برغو = سنکر- تورم،

٤- بنجخې = درې خچې (په اصل کې دونې بوټي سرغوته وائی.

په توربرېښ چې په میدان کې جنګیالی وي
سرخېرې کې یې وتلي ننګیالي وي

په خپل کور کلي کې د پرخلق نامستو وي
حقملاڼ په ولسات کې نومیالي وي

چې کلیم ورته بیرغ د یرغل ورکړي
که په هره غاړه مخ کړي، بریالي وي

کلیمه پښتوله، په لاس کې بمبل توره
د مېړونو خو هم دغه دوه کالي وي

که لوی شي دی هغه منډ دا بدالي دی
په دا څه که د چا توره ابدالي وي

په سومنات د غوا بین په خوله بانګ وائي
چې په ختة کې یې ګډه بلالي رض وي

بازداری پورې پېغور شولې بازداره
باتورزي دي قوشخانه کې تپوسان شول

په تولنه کې رنا پوهتي رانغله
که وګړي تول د سیلمې نه حاجیان شول

فرعوني او هاماني په زلزل کوره
پدې شغړوکې یو څوکه کلیمان شول
چې دیوې یې ستا پلرینې واخستلې
د میړې له ځایه پورته شوآنتیان شول
د همت سپاره دې وبوګنېدل هسې
خر سپاره درته له پامه وزبکان شول
زمریالی له خپلې ماړې پرشانه شو
په داغه شي په ډنګ ډنګ که ناکسان شول

ای تورانکی اوردزړه ونوله
ستا یوه کوکه ورکېدلی نه شي
تېره شلونه دا زغوکه وي تل
د ستر کولاره څوک نیولی نه شي
دکیدړانو په اور ړوکې چړې
د زمري غورځب خطا کېدلی نه شي
چې شي لاس برې دفطرت په لارو
په هغو چړک راپرېوتلی نه شي
د نن په ګټه چې بې سود کړېدی
د صبا یې میدان ګټلی نه شي

چې له دې ځمکې پورته شوی نږدی
خبر د بل نړوي راورلي نه شي
په شاه میره یې انګازه شویده
که یې بنجخی نس لیدلی نه شي

چې د لېچو نړور پیدا کړي تور دار شي
چې چنګیز یې وتړي نو هغه لار شي
چې وسلو متو سره کلیمه نه وي
که د غرپشان تومن وي تار پتار شي
له دستور د کائنا ته څنګ وښتي
د کندو انبار شته من قامونه خوار شي
بې وسي په دنیا لویه کوتاهي ده
چې د ښکار کولو نه وي، خپله ښکار شي
آدمزاد لویې میړانې شي کولی
چې د خېټې د غمونو نه وزګار شي
خواري بویه خو په حقې لارې بریه
خروړک کله په خولو وینو چنار شي
ته پخپل بخرکې ولې ناویسا یې
هم بخرکې چې خوندي کړي سور انګار شي

شنه راستي د سروې هيڅري خيم نه خوري
که پرې تېر د خزانو نو ترپسمار شي

د باطل د وېرتښکي خو کليمه ده

له نېمګړو مفکورو هيڅ نه وېرېږي
د پرقامونه به د ځمکې له مخ ورک وو
خود ټکه سره تيغ نه وږی کېږي
زبږي[1] ټول سمسور به د لڅوخت ترمنځ کړي
تلوار کړئ رندو! ديګ پسوار باندې تودېږي
پلويانو د روسو او لېنن! واورئ
دا نړۍ ستاسو په وړاندې به نړېږي
بنسټونه د ړوندون په يوه حال وي
اډانې مکر له وخت سره نړېږي
ټول بدلون يا نه بدلون ړوندانه ندی
خوار هغه دی چې يو لور ته ځنګړېږي

په شونګار د اباسين چپې شوې پورته
ولې چپ يې د مانګي سندره نه کړه

۱- زبږي = زړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاړاکونه د خزان نرګونه تېر شول
خو د سروي شنه جامه یې زېړه نه کړه
چې رښتیا ویل د کومو خولو توره وه
بر په دار یې له رښتیا و بله نه کړه
راغلل ډېر انقلابونه دلې هورې
ولې درسته یو سالار کلیمه نه کړه
مېړنی په مېړني پسې لوګی شه
خو باطل سره توده یې سره نه کړه
تېر و تړو، تهمتونو او خونړې هم
هېڅ کچه د پتیالو عقیده نه کړه

چې د سرو وینو پیاشي پکې څلېږي
شاه ځلمي هم په هغو لارو چلېږي
سر سجدې د جماتونو په پوړونو
د مېړه په یوه هڅه نه ارزېږي
ککرې د کلیمانو وي تل هسکې
شکرورې ککرې ورته ټیټېږي
حقملان له زماني وي پېړه مخکې
خلق نور د زماني په دود تېرېږي

کليمه د کائنات سره جنګيږي
غل د رغل به له جنګ غالي پښا کيږي
نه دې خپله غاړه خلاصه په مړيه کا
دې نه مه ګوره چې کله صبا کيږي

د ميږه له مټو پاڅه — د ناحق جهان نسکور کا
په چينجنو روستو ګړګو — بود هيږه پوړې اور کا
دا خدايان د هيتنګي نه دي — ولې نه سترګې د بوّر[1] کا
د قامونو ونړي ځمکه — د آدم تالیزه کور کا
دا د غوښنو تش لوتو نه — په حُلقا د جسو نور کا
د څښتن په ګنبد وکې
خپلې چارې دې انځور کا

په تيرو تورو بر غند ځي
نښکيالي ځي په خپل منډه ځي
د ميږه د خولو وږم
د سپرلو له ګرده ونده ځي

---

۱. بوّر = زهري.

له ښښتنه چې هم غبن وي

هغه کار هم کله شنه ځي؟

هغه پښې پرې کړې بویه

چې د خلقو په مرکه ځي

د تسپو خاوند ته خیر دی

که ځي دارلره، لونه ځي

وسپینیزې خټې[1] را وړه

د کلپانو آخر کنده ځي

چې په ځانګه کې پخه شي

هغه ځمکې له بې شنه ځي

چې له اوره لاشه مومي

څه یې ویره بیا له اوره

زړې مات وړوکي کور کړي

شي همغاړې له شهکوره

په چرسو[2] به ترخو سود کړي

کائنات ځني پلن پسوره

د زړې ځای پکې ورک شي

چې ژوندون کړي جامه نوره

۱- خټ: کمیس- بمنی، ۲- چرسو: تنګ ځای

سرېخېره تل پاتېږي
خير دي نشته سرېخوره!
د فطرت په هنداره کې
له ښېښنه ځان ته ګوره

○

چې ځانمن دی هغه کس دی
چې ناځانه دی ناکس دی
په سیلاب غرور نه لړېږي
څه ارزښت د لې د خس دی
یو په لس، هم یو په سل دی
پیاوړی چې په جس دی
د هوس د غزالې[1] نه
دزمري ورته پره وس دی
په زړګونو دلو سږد[2] له
یو بخری داور بس دی
ګرندو پرې ږېره ګل کړه
د مېنه کاروان پس دی

---

۱ـ غزاله: د هوس سېل
۲ـ سږد: یو واښه

زرداران خوري مدام غوښې
د خپل قام لکه کرکس
په درست قام یې لګولی
له پېروراسې کرګس
دوی ښېمین له سره واخلي
قام له پاتې شي یکرس
روږدي به کاندي ولس ته
بیاکوي مانځه او دس
د بې وس وندې کوونکو!
وي ترڅو به ستاسو وس
د «لا تركضوا» وخت لنډ دی
لاکوئ هوا هوس

چې څټکوي ظالمان شي
سینه یخه د جهان شي
چې خدایان پرمخې پرېوځي
راوچت بنیادمان شي

چې ځانګړې دوتن ورک شي
په توبنه لولنګران شي
کلیمه هله په پښتو شي
د باطل یو رجل چې وران شي
زورداري کې ځانا ځان وي
کلیمه کې تول یو ځان شي

بدي شخړو پرکسنو کې
هم هغه ځلمی لغځور دی
چې د تول نوغی دخیره
همه چار وکې حقطور دی

پورپه جسو شه بیا ګوره
چې یوتن څنګه لښکر شي
د میړه له چارو بریښي
په تندی اخستی غر شي
هر د مځو برخیز تیا ده
چې خرېک پاڅي نښتر شي
له تنې زوخ چې اوچت شي
لکه نمر پېرې تل سحر شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ځړوندي وي د ښکار ځله
تودې وینې خود شهپر شي
زمرین ګواښنه شاه ځلموته
سلامي سنګر سنګر شي

ځوانان څه کږې دورمې دي
ځکه یې غشي بې پلې دي
چې له بازه چټو ته ناست دي
پیغالونه یې ولچې دي
ولسات لکه تنزري
د ښکاریانو په ښچې دي
د بل مخه یې ښتوله مخه
پرکښې نه دي ترمې دي
د نمرود وسیلې وایې
له آذرې عقیدې دي
چې نومړي په سرو دي
د سروتښې پېښې دي
د باتور نخښې یې نښته
لا ملخې تولې جوڅې دي

د یو شرق نږغملونه دي
دا پېژي دومره اومـــې دي
پکې ژه یم بـوده نه شـه
وجود تشې تنســتې دي

د آدم ځانګړې، زه یم، لکه حق صمد احـد دی
تن زانه دی ولې زه یم، لَمْ یَلِدْ وَلَمْ یُوْلَـدْ دی

د هر ژړي په درون کې    د خپل ستر وجود انځور وي
تېغ، تنه ځانګې ګلونه یې    هم کامونه په خپل لور وي

دیکرنګه برید مېړونه    نیسي نور نور سنګرونه
د فطرت خوا بزه لړنه دي    که ساړه نه شي متونه
لمن څه چې، ځادر خور کا    د سپرلي ډېر دي ګلونه
ته لا میشت په سر پراوې    ژوند دې شخړې پړاوونه
خونې خونې ستور تلېږي    تازه نه کړه یوخونه
که تنها کوته کښېنې    شي کوته به مزلونه
قدم تېز کړه، چې غږېږي    ستوره تلو کې جرسونه
یوه ورځ به درته راشــي
ستور کزونه بېلکــــونه

چې په یو هسته پیوست شي
ذرې غونډې شي تور غر شي
وړانګه کړه شي په وړانګې
ړا دبره نوی نمر شي
چې حجرې غښتلي پاڅي
نو د هِکَ ځاندرو سحر شي
ننګ له ننګه چې کوشیر شي
هم لښکر شي، هم سنګر شي
چې سپېنګیر سره صف تړ شي
هله الله اکبر شي
هڅې هڅې چې په ګواښ شي
نو څوغې نوې په سر شي
شهسواران چې یکځ جلب شي
د برېدونو(۱) لوی اختر شي
تور په تور باندې شي پورې
سترګې سترګې یو نظر شي
لاړې لاړې هر آسمان شي
چې همت وزر شي

(۱) برېدونه = ولجې، مال، غنیمت.

د ژوند پېټې شي مخ لوڅې

چې شو کېر تېره نشتر شي

چې کټل بخښل توره شي

بیا آدم جنت ته ور شي

چې د عقل سپاره وېښ شي

پوچ خدایان هله ړېبر شي

د وجود تورو زیږون دی اود «زه یم» نوښتون دی

نوښتون کړه د ژوند تږه نوښت «زه یم» له پاڅون دی

یو غورځې دی اباسین دی غرونه غرونه دی یو نیز دی

یو هڅه دی سپوږمی ده یو یرغل دی ستور تلیز دی

له تش تور لاس اوچت شوی اوس د هر غوره غورېز دی

ستا د تورې له تکوره کائنات تول سندریز دی

غره راغه دې له همته ګل لمنې ګل مخېز دی

لا د ژوند غرمه ده لرې

دا خو اوس لا سور کهېز دی

که د ښروند نقشونه ډېر دي
ته د واړه ښروند انځور يې

نور ښروندون دي همه پلي
همدي ته يې چې شهسور يې

واړه ټوکي يو يو رنګ دي
ته له رنګه سپرلي طور يې

د هوسې په سترګه د ننه
هم باتور کسي د بور يې

د ذرې په ځاندره نمر يې
په قطره سمندر سپور يې

ته په ځمکه کې آسمان يې
په سرو او بوکې اور يې

د لښې سره پياځه[1] يې
لا شه تور، هم تکور يې

چې راغونده شي موټي خاورې
کائنات شي چې ورخور يې

د هجرو په ارونګه کې
له ظاهر ليده څه نور يې

---

۱- پياځه= د شاتو ډک ګبين

نور کورونه په تا تنګ دي
ته همسیال د خدای د کور یې

مفکورې به دېرې پوچ شي
د دې یو کلیمې وړاندې
چې یې بنسټ سندرې وایي
په صبا یې وایي ساندې

| | |
|---|---|
| په ټولنو کې زرغونه | دا د ډیوې او مشالونه |
| د سرهنګو شاه ځلمو دی | د خوّلو وینو رنګونه |
| د شاه متو الامې یې | اسمانکه سنګرونه |
| کنبدې یې د کړاو دي | وېر سپېرلي شالیزارونه |
| د ناغوسترکو شوکیو یې | شه علمونه، حکمتونه |
| په نهره د جنګرېزیې | خوږې وګړې شولانونه |
| د عقلي مبنود رَشه یې | هڅوبونه، تهذیبونه |

| | |
|---|---|
| د ځَلې د نرګس غږن دی | پسرلی یې تا ته رتلی شي |
| په ارکه چاپېریال هم | انقلاب زرغونېدی شي |
| عکسمته پرګنو نه | مله د لارې تولیدی شي |

میړه مل که د ښمنستن دی — له ښمنتن محکې کېدی شي
د تیروازغوله تخرګه — نوي ته وتد راستر کېدی شی
د فرعون له خپله درنده
کلیمان را پاڅېدی شي

آدمزاد لا لیشتینګ دی — لا د پرلري له خپل ډکګ دي
که په ټومنه باتوران دي — لا په چاروکي لوګک دي
فلسفیان یې هلک فکره — لا، له زړه یې بې درک دي
په دې ویړلوی کائنات کې — په یو ځمکه، نمرتاوک دي
که خپلواکه د پرځان بولي — چې یې ګوری لا بل وک دي
د شپانه ښاریې لا نه زده — شرمځان د خپل کنډک دي
لا یې عقل د پرکچه دی — لا په ډیر جهلو نوکلک دي
د سر نبوره نغوتکو — په لاسونو کې لینزک دي
زبینبا کیان یې په جوش کې
هغه شان په امبولک دي

لا په سر یې فرعونان شته — لا قارون شته، لا هامان شته
آدمزاد چې ریزکی دي — لا دو چې ډیر خدایان شته
د ولاړې ځکه نه شول — چې پرې پټ شلمان شلمان شته

لا په دار مسیحیا خېژي — لا لند پاري مذهبیان شته
خلیلان شرونې کشري — د آذر لا لښکریان شته
هرښونښت ته کفر وایي — لا مغ ځمتی زناریان شته
قلمونه په اور سوځي — لا د علم غلیان شته
آدمتهاله لا یو خوب دی — لا د قام، خاورې بتان شته

سرهتوب ته لوی منزل دی
لا د دوو پښو حیوان شته

وخت به اخلي، ادمزی چې
له خپل ځانه اشنا کېږي
د ځښتن او د خپل زه یم
په اړیکو چې رسېږي
وخت به اخلي دا حیوان چې
د سري په پښو پاخېږي
وخت به اخلي پوچ خدایان چې
د بربري، نسکورېږي
او د جهل کتابونه
د خنداتوکي جوړېږي
وخت به اخلي کائنات چې
ستر آدم ته بیاتېتېږي

د آدم په پاڅېدو کې
لا د دېرو پېرو څنډه دی
د دې دوو پښو څاروی ته
لا په څټ کې لوی کولنده دی

ته په بټول کائنات بریې     خوله ځانه بې خبریې
ملغلره یې په زه یم     که سپی یې په تن بهریې
په یو څاڅکي کې توپان یې     په ذرې د ننه غریې
بر سېرنه که لاک بنکارې     چې په جسم شي نو سره زریې
ستا توبرې توره دې "زه یم"     هم په "زه یم" ولجه کړیې
که ورستی راغلی کاروان کې     خو د واړه کاروان سریې
مینځ هستۍ ته دې پام نه دی     د بهر هستۍ په چریې
لا نیمچه آدم یې ځکه     لا د نیم ځان روزنکړیې
انځاره کې حق ته تلیه!
د ناحقو انځور ګړیې

مفکرو پوچوا وخوشو
کوچني کړی آدم زی دي
که یې ستر کتاب په لاس شي
د خښتن د برش سری دی

الکتاب په ادم زونی
لا ژبنودن آخرني دی

که هر څوره لغوني دی
خو هر نن کي صباني دی

حق لا اوس هم نا ویلی
که ویلی دندله دی

فرعوني دی په خمار کي
نازیږي په کلیمي دی

چرګ پرېوتي سیلاب زوځي
نوح پلوی بي بېړۍ دی

د کعبي سپایان جوت نه دی
اتیوان بیا په غدۍ دی

یو مذهب دکمتي نه دی
دالیندی واړه بي ژبۍ دی

خلق خبتي د بتکور دی
ځکه ښخي آذري دی

ناپوهي د هر وګړي
په وګړي په غدۍ دی

مفکوري پوچې نیمګړې
بسکیلکونه تیزندی دی

○

چې خوندي دي کړه وروړه شه
چې دې و بازه خوندي شه
لاس په ظلم پورته شوی
بېرته شرق په خپل تندي شه
د باتورو جسن یې بایلل
چې د چتو وهندي شه
پولې پاڅي آدم وخوري
چې د پولو ځای بندي شه
د خلیل ع پرې ته وتي
د بتانو وهندي شه
چا تونګ د اسمان وخور
څوک ځغلا په ګرېندي شه

○

PROPERTY OF ACKU 7550

شوندانه تول یو ځانیز دی
که هرڅو مره ګڼ رنګین دی

مخ د ستورو په سیو مخه
که هر ستوری بل مخ ـ ـ ـ ـ یز دی

په یوبه په زیر ځیاروځي
دارباب که زرتاریز دی

لاړي لاړي یوشه لاړه
تهـ ـ ـ ـ ـل تلی، یوشه تلیز دی

ستور تلیز ستور تلین کورکور
کائنات یوشه کوریز دی

پدې دومره هک ځاندره کې
ځمکه ناشې غوندې خیز دی

خو ځمکه زی په شونی تیاو
د همه شروند د توزیز دی

په تنزوم ټکیراو کړه
شیش بیا واخله ویرجهان ته

چې ذره په ولکه واخلي
مستی راښکه بیا شلمان ته

ستا تقدیر څه ځمکه نه ده
لاړي وباسه آسمان ته

له بېلې درياب ته واوړه
له تنګې نه پلن دامان ته
غور کمنه په لينده کړه
بيا ورکښېږده ښخ کمان ته
له سيمرغو دې د پرښو وند وکړه
لاس کړه اوږد نمرږو بنان ته
پوهه بوځه څېرکتيا له
څېرکي راښکه ايمان ته
په نړۍ ورخورېدو کې
ګرځېدلی اوسه ځان ته

PROPERTY OF ARIC Established

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library